**جمهوری اسلامی افغانستان**

د جمهوري ریاست د چارو اداري لوی ریاست

د څارنې او قانون ساتنې معاونیت

د څارنې او ارزونې ریاست

# د کار او ټولنیزو چارو وزارت د بررسۍ راپور


ور اندې کوونکی: مؤظف پلاوی



نېټه: د ۱۴۰۰ لمریز کال د وري (حمل) میاشت


لړلیک


شالید.......................................................................................................1

د بررسۍ ساحه ........ 1
میتودولوژي ........ 1
د معلوماتو د راټولولو ابزار (توکي) ........ 1
د بررسۍ د ترسره کېدو پړاوونه ........ 1
د بررسۍ محدودیتونه ........ 2
د کار او ټولنیزو چارو وزارت لنډه پېژندنه او اوسنی ټولیز وضعیت ........ 2
د بررسۍ اړوند موندنو تفصیلي راپور ........ 3
1.د بشري سرچینو او تشکیل په برخه کې موندنې. ........ 3
2.د بهرنیو اتباعو د جواز صادرېدو په برخه کې موندنې ........ 14
3.د څارنې او ارزونې برخه کې موندنې. ........ 18
4.د مالي او تدارکاتي برخې موندنې. ........ 21
5.روزنتونونو او وروکتونونو کې موندنې. ........ 29
6.د فني او حرفوي مهارتونو د ودې په برخه کې موندنې. ........ 33
7.د ټولنیزو تأميناتو په برخه کې موندنې. ........ 36
نتیجه ګیري (پایله) ........ 38
وړاندیز ........ 39

PAJHWOK
Afghan News

**<u>د کار او ټولنیزو چارو وزارت د بررسۍ په موخه د عالي مقام هدایت:</u>**

**"په عاجله توګه دې اجراآت وشي.**

**د کار او ټولنيزو چارو وزارت کې د قانون ماتونې او بې نظمۍ په اړه ادعاوې دې د چارو ادارې لخوا وڅېړل شي او خپل راپور دې په لسو ورځو کې شريک کړي."**

## شالید

د جمهوري رياست لوړ مقام د ۱۳۹۹/۱۲/۰۷ نېټې (۵۳۳۱) ګڼې هدايت په اساس، د څارنې او قانون ساتنې معاونيت ته دنده سپارل شوې وه ترڅو د کار او ټولنيزو چارو وزارت وروستۍ کړنې (۱۳۹۹ او ۱۴۰۰ مالي کلونه) وڅېړي. د ياد هدايت په اساس، د څارنې او ارزونې رياست يو تخنيکي پلاوی د نوموړي ماموريت د ترسره کولو په موخه مؤظف کړی ده چې دادی د ترسره شویو څېړنو راپور يې له اړوندو وړانديزونو سره مل ستاسو عالي مقام ته وړاندې کيږي.

د يادونې وړ ده چې پلاوي مخکې تر دې چې اړوند راپور عالي مقام ته وړاندې کړي خپلې موندنې يې د کار او ټولنيزو چارو وزارت له رهبرۍ سره شريکې کړې دي او د هغوی نظريات او ملاحظات يې ترلاسه کړي او د راپور د چمتو کولو پر مهال مؤجه ملاحظات په پام کې نيول شوي دي. يادو ملاحظاتو ته په کتو سره په اکثرو برخو کې د پلاوي موندنې د وزارت لخوا تآئيد شوي دي.

## د بررسۍ ساحه

د کار او ټولنيزو چارو په وزارت کې د مؤظف پلاوي د څېړنو اړوند ساحه لاندې برخې تشکيلوي:

- بشري سرچينې؛
- تشکيلاتي جوړښت؛
- مالي او تدارکاتي چارې؛
- بهرنيو هېوادونو ته د کارګرانو د لېږلو لړۍ؛
- بهرنيو اتباعو ته د کار جواز صادرول؛
- د تمويلوونکو بنسټونو له تعهداتو څخه د مؤثرې ګټه اخيستنې څرنګوالی؛
- د وزارت اړوند روزنتونونو او ورکتونونو مديريت او کنټرول؛
- د داخلي څارنې او ارزونې څرنګوالی.

## ميتودولوژي

مؤظف پلاوي پورته ذکر شويو موخو ته د رسېدو لپاره د کار او ټولنيزو چارو وزارت د اړوند اسنادو د مطالعې، مصاحبو، عيني مشاهداتو او پوښتنپاڼو له لارې معلومات راټول کړي او راټول شوي معلومات د هغوی د کره والي په موخه د وزارت له اړوندو اسنادو سره په مقايسوي ډول ارزول شوي دي.

## د معلوماتو د راټولولو ابزار (توکي)

الف: پوښتنپاڼې

ب : معلوماتي فورمې

ج : مصاحبې

د : له مسؤلينو سره ليده کاته او عيني مشاهدات

## د بررسۍ د ترسره کېدو پړاوونه

دا څېړنه په لاندې شپږ پړاوونو کې تنظيم او ترسره شوې ده:




## د بررسۍ محدودیتونه

مؤظف پلاوی د بررسۍ د ترسره کولو په لړ کې له لاندې محدودیتونو سره مخ وه چې تر یو حده یې د پلاوي د بررسۍ نتایج متأثره کړي دي:

1. د وزارت د کاري احجامو په نسبت مؤظف پلاوي ته د تعین شوي وخت (ضرب الأجل)کمښت؛
2. د یو شمېر پوښتنپاڼو په ځواب کې له (۳) الی (۷) ورځو تأخیر؛
3. د یو شمېر مسؤولینو په ځوابونو کې د لازم وضاحت نشتوالی؛
4. د وزارت د اړوندو اسنادو د تنظیم (Filling) په برخه کې بي نظمي؛
5. د وزارت په مختلفو برخو کې د وظایفو نا انډول وېش او د موازي شعباتو د شتون له امله د مسؤلیت نه منل؛

## د کار او ټولنیزو چارو وزارت لنډه پېژندنه او اوسنی ټولیز وضعیت

د کار او ټولنیزو چارو وزارت د کار مارکېټ د تنظیم له لارې مولد، وړ او دایمي کار ته د افغانستان د کاري ځواک د لاسرسي او همدا راز د ماشومانو د خوندیتوب او ټولنیز مصؤنیت په موخه فعالیت کوي.

د وزارت رسمي تشکیل (6530) تنه دی چې له هغې جملې څخه یې (۵۴۵) بستونه خالي دي او سربېره پردې په نوموړي وزارت کې (834) تنه باالمقطع کارکوونکي او تقریباً (178) تنه قراردادي کارکوونکي په کار بوخت دي.

نوموړی وزارت درې معینیتونه او (26) ریاستونه لري او همدا شان د هېواد په (۳۴) ولایتونو کې یې دوهمي واحدونه فعال دي.

له نوموړي وزارت سره د بهرنیو اتباعو کره شمېر چې د کار په موخه افغانستان ته راغلي نشته همدا راز تر اوسه وزارت معلومه کړې نده چې په هېواد کې څو تنه بهرني اتباع د کار جواز لري او څو تنه یې نلري.

وزارت د مدیریت او داخلي همغږۍ له اړخه په یوه نامناسب وضعیت کې قرار لري، د کار مارکېټ په تنظیم او پراختیا کې د وزارت ونډه د قناعت وړ نده. وزارت تر اوسه ندی توانېدلی چې یو افغان کارګر هم له هېواده بهر د کار په موخه واستوي پداسې حال کې چې د څلوېښت زرو شاوخوا کسان بهر ته د لیږلو په موخه له یاد وزارت سره ثبت دي. همدا راز یاد وزارت له تیرو پنځو کلونو راپدې خوا په خصوصي او دولتي سکټور کې د ګمارل شویو کسانو کره شمیر نلري او همدا ډول د بیکارۍ

کچې په اړه تازه ارقام ورسره نشته. یاد وزارت په هېواد کې د (۲۳) مختلفو کټګوریو زیانمنو ماشومانو چې ټول شمېر یې د وزارت د معلوماتو په اساس (۴،۰۰۰،۰۰۰)څلور ملیونه تنو ته رسیږي د ساتنې او پالنې مسؤلیت لري اما له یادې شمېرې څخه یې یوازې یوه سلنه ماشومان تر پوښښ لاندې لري.

وزارت د هغو همکارو موسساتو له کړنو څخه چې د وزارت په کاري ساحه کې له بهرنیو مرستو څخه د تمویل شویو پروژو د پلي کیدو قرارداد لري لازمه څارنه نه ده کړې پداسې حال کې چې وزارت په خپلو اړوندو برخو کې د پروژو د ښه پلي کیدو په موخه له یادو موسساتو سره رسمي هوکړه لیکونه لاسلیک کړي دي او د یادو هوکړه لیکونو په اساس د وزارت دنده ده ترڅو د هغوی له کړنو څخه منظمه څارنه وکړي.

**د موندنو لنډیز:**

1. د قانون خلاف د (۱۱۹) تنو ګمارنه؛
2. په بالمقطع توګه د مقررې خلاف د (۸۳۴) تنو ګمارنه؛
3. له استثنائي مالي امتیاز څخه برخمن (۱۵۲) بستونو ته یاد امتیاز د طرزالعمل خلاف ورکول؛
4. د وزارت (545) رسمي بستونه خالي پاتې دي؛
5. په انکشافي پروژو کې د وزارت له رسمي تشکیل سره موازي بستونه جوړېدل؛
6. اته کلیدي بستونه د وارسي کوونکو لخوا اداره کیدل؛
7. د (۳) کلونو لپاره د ماشومانو د ساتنې ریاست رئیس د سرپرست په توګه پاتې کېدل؛
8. د (۳۳) تنو کارکوونکو قرارداد په ټولیز ډول لغوه کول؛
9. د ورتیاوو د پراختیا ملي پروژې رئیس ته د (NTA) لایحې خلاف لوړ معاش ورکول؛
10. د ورتیاوو د پراختیا ملي پروژه کې د کامیابو کسانو پرځای د ریزرف کسانو ګمارنه؛
11. د الکترونیکي حاضرۍ غیر فعاله کېدل؛
12. د حاضرۍ نه کنټرولول او د اضافه کارۍ حاضرۍ نه لاسلیک کول؛
13. د وزارت د ۱۴۰۰ مالي کال تشکیل نه جوړېدل؛
14. د ۱۳۹۹ تشکیل کې د محوري او مسلکي برخو تنقیصول؛
15. د ۱۳۹۹ تشکیل په اړه د ولسمشر شفاهي هدایت او د کابینې پرېکړې نه رعایتول؛
16. د تشکیلاتي تورم او موازي بستونو شتون؛
17. دولایاتو د روزنتونونو په تشکیلاتو کې د انډول نه شتون؛

[حمایوي اسناد له لومړۍ شمېرې ضمیمې سره مل دي ]

## د بررسۍ اړوند موندنو تفصیلي راپور

د موظف پلاوي موندنې په تفصیلي توګه په لاندې برخه کې د هر یوې موندنې په تفکیک سره وړاندې کېږي.

### 1. د بشري سرچینې او تشکیل په برخه کې موندنې

مؤظف پلاوي د کار او ټولنیزو چارو وزارت د بشري سرچینو برخه د وزارت د کاري احجامو او اړتیاوو په بام کې نیولو سره څېړلې ده چې پدې برخه کې (۱۹) موندنې لري، د یادو موندنو تفصیل د هرې موندنې په تفکیک سره په لاندې ډول دي:

## لمړۍ موندنه

د وزارت په رسمي کارکوونکو کې (100) سل تنه او په قراردادي کارکوونکو کې (۱۹) تنه له آزاد رقابت پرته په دنده ګمارل شوي دي.

### تشریح

د وزارت په شته رسمي کارکوونکو کې (100) سل تنه او په قرارددي کارکوونکو کې (۱۹) تنه د ملکي خدمتونو د کارکوونکو قانون خلاف، له آزاد رقابت پرته د وزارت د اوسنۍ او پخوانۍ رهبرۍ لخوا له آزاد رقابت څخه پرته په دنده ګمارل شوي دي. د ملکي خدمتونو د کارکوونکو قانون سره سم ټول دولتي بنسټونه مکلف دي چې خپل تش بستونه اعلان ته وسپاري او د آزاد رقابت له لارې ور اشخاص په دنده وګماري اما د یاد وزارت د مرکز او دویمو واحدونو په رسمي تشکیل کې پرته له نومړو پړاوونو څخه (۱۷) تنه په دریم بست، (42) تنه په څلورم بست، (39) تنه په پنځم بست او (2) تنه په شپږم بست کې ګمارل شوي دي. د یادونې وړ ده چې د وزارت د تقنین برخې هم په رسمي لیک کې ویلي دي چې دا ډول ګمارنې د قانون خلاف دي اما د یادې برخې نیوکې ته پام نه دی شوی.

همدا راز د ورتیاوو د پراختیا ملي پروژې(NSDP) د بشري سرچینو اړوند اسنادو د کتنې په اساس شاوخوا (۱۹) تنه په بیلابیلو وختونو کې له آزاد رقابت پرته په دنده ګمارل شوي دي چې یو شمېر یې لا هم په دنده کې دي. د یادونې وړ ده چې د مالیې وزارت هم ددې ډول غیر قانوني ګمارنو سره کتبي موافقه کړې ده چې د پوښتنې وړ ده.

### وړ انديز

د لسو کاري ورځو په ترڅ کې دې د وزارت د بشري سرچینو د رئیس په شمول چې په یادو ناقانونه ګمارنو کې مستقیماً ښکېل دی له واحدې منبع څخه ټول ګمارل شوي کسان منفک شي، ټول هغه مسؤلین چې په یادو غیر قانوني ګمارنو کې لاس لري عدلي او قضایي ارګانونو ته ور وپېژندل شي او نوموړي بستونه دې د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو کمیسیون سره په همغږۍ د وړ کسانو د ګمارنې په موخه اعلان ته وسپارل شي او اړوند راپور دې له جمهوري ریاست سره شریک شي.

☐ تائید ☐ رد د مقام ملاحظه:________

## دويمه موندنه

د بالمقطع کارکوونکو د مقررې خلاف، په بېلابېلو برخو کې (834) تنه په بالمقطع توګه ګمارل شوي دي.

### تشریح


د بالمقطع کارکوونکو د مقررې خلاف، په بېلابېلو برخو کې (834) تنه په بالمقطع توګه پرته لدې چې د وزارت په سطحه یې د اړتیا ارزونه وشي ګمارل شوي دي پداسې حال کې چې د اکثرو ګمارل شویو کسانو په اړه د اړوندې برخې (شعبې)رسمي وړاندیز چې د یادو کسانو د بالمقطع ډول ګمارلو واضح اړتیا او نور تخنیکي او مسلکي مشخصات پکې ذکر شوي وي، شتون نلري.

د یادو کسانو چې (262) تنه بیسواده، (192) تنه بکلوریا، (93) تنه فوق بکلوریا، (289) تنه لیسانس او (5) تنه یې د ماسټرۍ کچې زده کړو درلودونکي دي او (49) تنه یې حرفه یي کسان دي، لویه سلنه یې د اړوند تقنیني اسنادو خلاف په غیر مسلکي او تخصصي برخو کې د تحصیلي رشتې خلاف د وزارت د بالمقطع کمیټې په لاسلیک او د اوسني او پخواني وزیر صاحبان په منظورۍ په دندو ګمارل شوي دي چې عمده برخه یې د وزارت په مختلفو برخو کې محافظین دي.

د یادونې وړ ده چې د نومړو کسانو د ګمارنې په موخه د بالمقطع کمیټې هیڅ رسمي ناسته چې د ناستې پرېکړې یې ثبت شوي وي شتون نلري یوازې د قرارداد په اړوند فورم کې د بالمقطع کمیټې غړو لاسلیک اخیستل شوی دی. او یادې کمیټې غړي هم

د مقررې خلاف چې باید د یو کال لپاره تعین شوي وای د یوه کال په موده کې درې ځلې تغیر او تبدیل شوي دي. دا ګمارنې پداسې وخت کې شوي چې لا هم د وزارت (545) رسمي بستونه خالي دی.

**باالمقطع کارکوونکي**




**ور اندیز**

د تړلو

بالمقطع کارکوونکو قرارداد دې ددې راپور د منظورۍ له نېټې سره سم لغوه شي او وزارت دې ټول خالي رسمي بستونه د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو کمیسیون سره په همغږۍ اعلان ته وسپاري. که د وزارت په هره برخه کې د محافظینو اړتیا وي د کورنیو چارو وزارت دې له خپل قانوني مسؤولیت سره سم پدې برخه کې اقدام وکړي.

☐ تائید ☐ رد د مقام ملاحظه:________


**دریمه موندنه**

له استثنایي مالی امتیاز (Super scale) څخه (۱۵۲) برخمنو بستونو کې یو شمېر یې د اړوند طرزالعمل خلاف غیر مسلکي او غیر تخصصي دي.

**تشریح**

د وزارت په کچه ټول (۱۵۲) بستونه له استثنایي مالی امتیاز (Super scale) څخه برخمن دي چې اکثره یې تخصصي او مسلکي بستونه ندي. دا امتیاز د اړوند مقررې مطابق باید هغو کسانو ته ورکړل شي چې د ځانګړي تخصصي مهارت درلودونکي وي اما د کار او ټولنیزو چارو په وزارت کې دا امتیاز د تخصصي بستونو په عوض د وزارت حمایوي او اداري بستونو ته ورکړل شوی دی چې حتی ښکته بستونه لکه (31) پنځم او (7) شپږم بستونه پکې شامل دي.

**د سوپر سکیل معاش اړوند بستونه**



**ور انديز**

د جمهوري رياست د چارو ادارې، ماليې وزارت، د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو کميسيون او د کار او ټولنيزو چارو وزارت استازو په ګډون دې يو پلاوی مؤظف شي ترڅو په دوو مياشتو کې د اړوند تقنيني اسنادو په رڼا کې د نوموړي وزارت د استثنايي مالی امتياز (Super scale) لړۍ کره کتنه وکړي او لازم اصلاحات پکې راولي.

☐ تائيد ☐رد د مقام ملاحظه:______

**څلورمه موندنه**

د وزارت په کچه (545) رسمي بستونه خالي پاتې دي او اعلان ته ندي سپارل شوي.

**تشريح**

د وزارت په کچه (545) رسمي بستونه خالي پاتې دي چې له هغې جملې څخه يوازې (۶) بستونه اعلان ته سپارل شوي دي. دا پداسې حال کې ده چې وزارت (۸۳۴) تنه په بالمقطع توګه ګمارلي دي.

**ور انديز**

خالي بستونه دې ژر تر ژره د وړ کسانو د ګمارنې په موخه د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواک کميسيون سره په همغږۍ اعلان ته وسپارل شي.

☐ تائيد ☐رد د مقام ملاحظه:______

**پنځمه موندنه**

د وزارت د رسمي تشکيل سربېره په هره انکشافي پروژه کې د بشري سرچينو، مالي او حسابي، تدارکات او د څارنې او ارزونې ځانګړي واحدونه را منځته شوي دي.

**تشريح**

د وزارت په هره انکشافي برخه کې د بشري سرچينو، مالي او حسابي، تدارکات او د څارنې او ارزونې ځانګړي واحدونه را منځته شوي چې ټولې اړوندې چارې د وزارت له رسمي واحدونو پرته په جلا توګه ترسره کوي. دا ډول موازي تشکيلاتو له يوې خوا په وزارت کې تشکيلاتي تراکم را منځته کړی او له بلې خوا يې د وزارت رسمي تشکيلات او د رسمي کارکوونکو اجراآت او کړنې محدودې کړي او لازم صلاحيتونه يې صلب شوي دي او ددې لامل شوي چې د وزارت اساسي برخې پر انکشافي چارو هيڅ ډول کنترول او څارنه ونلري ټول اجراآت د پروژو د قراردادي مسؤلينو لخوا په خپل سرې توګه ترسره شي.

**ور انديز**

د ټولو انکشافي پروژو له تشکيل څخه دې هغه موازي واحدونه لکه بشري سرچينې، تدارکات، مالي او اداري برخې او د څارنې او ارزونې واحد د يوې مياشتې په ترڅ کې هر يو د يو واحد رياست تر چتر لاندې ترتيب شي او ټول لازم صلاحيتونه دې د وزارت رسمي تشکيل اړوندو برخو ته انتقال شي.

☐ تائيد ☐رد د مقام ملاحظه:______

**شپږمه موندنه**

د وزارت (8) اته کلیدي بستونه د وارسي کوونکو لخوا اداره کیږي.

**تشریح**

د وزارت (۸) اته کلیدي بستونه (د وزارت مقام د دفتر رئیس، د ورکتونونو تدریسي رئیس، د فني او حرفوي زده کړو د تنظیم مرکزونو رئیس، د پلان او برنامه ربزۍ رئیس او د پکیتا، لوګر، بامیان او سمنګانو ولایتي رئیسان) د اړوند تقنیني اسنادو او د کابینې د پریکړو خلاف د وارسي کوونکو لخوا اداره کیږي. "وارسي کوونکی" داسې اصطلاح ده چې تر اوسه په هیڅ تقنیني سند کې تعریف شوې نه ده ټولې ګمارنې تر دغه عنوان لاندې قانوني مبنا نلري او د قانون خلاف عمل دی. د کابینې د ۳۰/۴/۱۳۹۹ نېټې (۱۴) ګڼې مصوبې په (۲-۴) فقره کې ټول دولتي بنسټونه مکلف شوي چې د یادو ګمارنو څخه په کلکه ډډه وکړي.

**ور اندیز**

د یوې میاشتې په ترڅ کې دې د وارسي کوونکو تر عنوان لاندې اته بستونه د آزاد رقابت له لارې اعلان ته وسپارل شي، وزارت دې منبعد له دا ډول ګمارنو څخه په کلکه ډډه وکړي. د وزارت د رهبرۍ لخوا د کابینې د مصوبې د نقض په اړه جلالتمآب جمهور رئیس څرنګه چې لازمه ګڼي هدایت وکړي.

☐ تائید ☐رد د مقام ملاحظه:______

**اوومه موندنه**

د ماشومانو د ساتنې شبکې ریاست، له درې کلونو راپدې خوا د یوه شخص لخوا د سرپرست په توګه اداره کیږي.

**تشریح**

د وزارت د ماشومانو د ساتنې شبکې ریاست، له درې کلونو راپدې خوا د یوه شخص لخوا د اړوند تقنیني اسنادو او جلالتماب ولسمشر د ۱۳۹۹/۱/۳ نېټې (۵۹) ګڼه حکم خلاف د سرپرست په توګه اداره کیږي. د یادونې وړ ده چې یاد سرپرست څو ځلې په فساد او سؤاستفادې تورن شوی دی. د سرپرست په توګه درې کاله مسلسل د یوه کس پاتې کېدل نه یوازې دا چې د قانون خلاف دی بلکې د یاد کس د سؤاستفادې او د وزارت له رهبرۍ سره پر شخصي ګټو د متقابل جوړجاړي ښکارندويي کوي.

**ور اندیز**

د وزارت د ماشومانو د ساتنې شبکې ریاست سرپرست دې لدې امله چې په فساد تورن دی او له درې کلونو راپدې خوا د قانون خلاف د سرپرست په توګه وظیفه اجرا کوي او داچې د جلالمتمآب ولسمشر د هدایت په پلي کولو کې چې ذکر یې د راپور په بله برخه کې شته پاتې راغلی دی، له دندې ګوښه او اړوند بست دې ژر تر ژره د وړ کس د ګمارنې په موخه د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو کمیسیون سره په همغږۍ اعلان ته وسپارل شي.

☐ تائید ☐رد د مقام ملاحظه:______

**اتمه موندنه**

د وزارت د ورتیاوو د پراختیا ملي پروژې (NSDP) له قراردادي کارکوونکو څخه د (۳۳) تنو قرارداد په ټولیز ډول ختم شوی دی.

**تشریح**

د وزارت د ورتیاوو د پراختیا ملي پروژې (NSDP) له قررادادي کارکوونکو څخه (۳۳) تنه په ټولیز ډول پرته لدې د کړنو ارزونه یې وشي او یا هم د اړوند تشکیل اروزنه یې وشي، د وزارت د رهبرۍ لخوا له دندو منفک شوي دي او د ۱۳۹۹ مالي کال له نهمې میاشتې یې د کار قرارداد فسخ شوی دی. د یادې پروژې د مسؤولینو د رسمي معلوماتو په اساس د نوموړو کسانو د انفکاک لپاره هیڅ ډول کاري او اداري دلیل شتون نلري، د وزارت د رهبرۍ لخوا د یادو کسانو د انفکاک یو دلیل تشکیلاتی تراکم یاد شوی پداسې حال کې چې تر دې موضوع وروسته د نوموړې پروژې د تشکیل بستونه لا زیات شوي او بیاځلې اعلان ته سپارل شوي دي د پلاوي له نظره دا ډول کړنې یوازې له صلاحیتونو څخه سؤاستفاده او د خپلې خوښې کسان ګمارلو ته زمینه برابرول دي.

**ور اندیز**

د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواک کمیسیون د شکایاتو بورد دې یاده موضوع وڅېړي او پایله دې له جمهوري ریاست سره شریکه کړي.

☐ تائید ☐رد د مقام ملاحظه:______

**نهمه موندنه**

د ورتیاوو د پراختیا ملي پروژې (NSDP) د رئیس میاشتنی معاش د (NTA) لایحې خلاف لوړ تعین شوی دی

**تشریح**

د پلاوي د موندنو په اساس د ورتیاوو د پراختیا ملي پروژې (NSDP) د رئیس معاش د نوموړي زده کړو او کاری تجربو ته په کتو سره له ټاکلي حده لوړ تعین شوی دی.

PAJHWOK
Afghan News

**ور اندیز**

د مالیې وزارت دې د ورتیاوو د پراختیا ملي پروژې (NSDP) د رئیس له معاش څخه هغه اندازه پیسې چې له ټاکلې لایحې یې اضافي اخیستی د دولت عوایدو حساب ته بیرته وګرځوي او اړوند راپور دې جمهوري ریاست ته را واستوي.

☐ تائید ☐رد د مقام ملاحظه:______

**لسمه موندنه**

د ورتیاوو د پراختیا ملي پروژې (NSDP) په یو شمېر ګمارنو کې د کامیابو کسانو پر ځای له ریزرف کسانو سره د کار قرارداد لاسلیک شوی دی.

**تشریح**

د ورتیاوو د پراختیا ملي پروژې (NSDP) په یو شمېر ګمارنو کې د ګمارل شویو کسانو لیست د استخدام له راپور سره توپیر لري، ګمارنې پدې شکل شوي چې له یو شمېر ریزرف کسانو سره د کامیابو کسانو پر ځای د کار قرارداد لاسلیک شوی دی چې یوه بېلګه یې د ارزونې او تصدیق دهې مدیریت بست دی.

**ور اندیز**

د ورتیاوو د پراختیا ملي پروژې (NSDP) رئیس چې پخپله هم پرته له آزاد رقابت څخه ګمارل شوی دی، له صلاحیتونو څخه د سواستفادې او د دې ترڅنګ د پروژې له مالی امکاناتو څخه د شخصي ګټه اخیستنې (د پوهنتون د فیس ورکړه او له معتمد څخه پور اخیستل) په وجه چې تفصیل یې ددې راپور په مالي او تدارکاتي برخه کې شوی دی له دندې ګوښه او د یوې میاشتې په ترڅ کې دې د یادې پروژې له ټولو موجوده کارکوونکو څخه د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواک کمیسیون، جمهوري ریاست د چارو ادارې او د مالیې وزارت د استازو په حضور کې یوه ځانګړې آزموینه واخیستل شي او پایله دې د بریالیو او ناکامو کار کوونکو په تفکیک له جمهوري ریاست سره شریکه کړي.

☐ تائید ☐رد د مقام ملاحظه:______

**یولسمه موندنه**

د کارکوونکو د حاضرۍ سیستم مخکې په الکترونیکي ډول جوړ شوی وه اما له شاوخوا یوه کال را پدې خوا یاد سیستم غیر فعاله شوی دی

**تشریح**

د وزارت د کارکوونکو د حاضرۍ سیستم مخکې په الکترونیکي ډول جوړ شوی وه چې تر څو مودو فعال وه اما له شاوخوا یوه کال را پدې خوا یاد سیستم د کرونا وباه له ویرې بیرته غیر فعاله شوی دی پداسې حال کې چې د کرونا تهدیدات اوس مهال کم شوي او له بلې خوا د کرونا وباه ویره په کتابي حاضریو کې نسبت الکترونیکي حاضریو ته زیات دی. سربېره پردې د وزارت هر ریاست ځانته جلا قلمي حاضري لري چې د بشري سرچینو ریاست یې نه کنټرولوي.

**ور اندیز**

وزارت دې په (۱۵) کاري ورځو کې الکترونیکي حاضري فعاله او د وزارت ټول رسمي او قراردادی کارکوونکي دې په یاد سیستم کې شامل شي.

☐ تائید ☐رد د مقام ملاحظه:______

**دولسمه موندنه**

وزارت د اضافه کارۍ حاضري د ځینو کارکوونکو لخوا له یوې ورځې الی درې میاشتو راپدې خوا نده لاسلیک شوې

**تشریح**

د پلاوي د موندنو په اساس د وزارت د اضافه کارۍ حاضري پدې وروستیو میاشتو کې د ځینو کارکوونکو لخوا له یوې ورځې الی درې میاشتو نده لاسلیک شوې پداسې حال کې د اضافه کارۍ له امتیازه برخمن دي. دا پدې معنی چې د کار کوونکو اضافه کاري د رهبرۍ لخوا تر څار او کنټرول لاندې نه ده او د اضافه کارۍ امتیاز د کار د ترسره کولو پرته ورکړل شوی دی.

**وړ انديز**

د ټولو هغو کار کوونکو د اضافه کارۍ امتياز چې حاضري يې نه ده لاسليک کړې بيرته مسترد شي او منبعد هر کارکوونکی چې په اداره کې د اضافه کارۍ منظمه حاضري ونلري د اضافه کارۍ له امتيازه څخه دې واېستل شي.

☐ تائيد ☐ رد د مقام ملاحظه:______

**دیارلسمه موندنه**

د وزارت د ۱۴۰۰ مالي کال تشکيل تر اوسه ندی ترتيب شوی.

**تشريح**

د وزارت د ۱۴۰۰ مالي کال تشکيل لا نه دی ترتيب شوی، يعنې هر کال د وزارت تشکيل په يو کال تأخير سره جوړيږي. وزارت د يادې کمکارۍ لپاره د قناعت وړ دلايل نلري. د پلاوي له نظره ددې موضوع يوازنی دليل په وزارت کې د پر وخت نه اجراآت کول دي. د يادونې وړ ده چې د تشکيل د نه وروستي کېدو په صورت کې د وزارت د کلنۍ بودجې کره والی او نور انکشافي فعاليتونه د پوښتنې وړ دي.

**وړ انديز**

د کار او ټولنيزو چارو وزارت دې د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواک کميسيون سره په همغږۍ ژر تر ژره د ۱۴۰۰ مالي کال تشکيل وروستی کړي او د منظورۍ په موخه دې جمهوري رياست ته را واستوي. د ماليې وزارت دې د کال په دويمه نيمايي کې د ياد وزارت د وزير، معينانو، رئيسانو او آمرينو معاش د نوموړي تشکيل تر وروستي کېدو وځنډوي.

☐ تائيد ☐ رد د مقام ملاحظه:______

**څوارلسمه موندنه**

د وزارت د ۱۳۹۹ مالي کال تشکيل کې يو شمېر اساسي او مسلکي برخې تنقيص او يا هم ښکته بست ته تنزيل شوي دي.

**تشريح**

د وزارت د ۱۳۹۹ مالي کال تشکيل کې يو شمېر اساسي او مسلکي برخې تنقيص او يا هم ښکته بست ته تنزيل شوي دي، پداسې حال کې چې د جلالتمآب ولسمشر د حکم او کابينې د رسمي مصوبو د پرېکړو خلاف د وزارت د حمايوي برخو (مالي، اداري او خدماتي) تشکيل په خپل حال پاتې دی. د مثال په توګه بېرنيو هېوادونو ته د کار ګرانو د استولو رياست درېيم بست (آمريت) ته تنزيل شوی دی پداسې حال کې چې جلالتمآب ولسمشر بهرنيو هېوادونو ته د کار ګرانو د اعزام او يدې برخه کې د پوره جديت غوښتونکی دی. د وزارت اساسي دنده د کار مارکېټ تنظيمول دي حال داچې يدې برخه کې يې د قناعت وړ لاسته راوړنه هم نلري اما د تشکيل په وروستيو تغيراتو کې يې يوازې د کار معينيت تشکيل لا هم کوچنی شوی دی. په ټوله کې د جلالتمآب ولسمشر او کابينې تأکيد تشکيلاتي تورم له منځه وړل دي اما ياد وزارت صرفاً د ټول وزارت په سطحه (۳۰) بستونه کم کړي دي.

**وړ انديز**

د وزارت د ۱۴۰۰ مالي کال په تشکيل کې دې د وزارت حمايوي (مالي، اداري او خدماتي) برخو کې (30) سلنه تنزيل او تنقيص راشي او د وزارت مسلکي او محوري برخې لکه د کار معينيت تشکيل باندې بايد بياکتنه وشي د اړتياو سره سم دې پکې لازم اصلاحات راشي.

☐ تائید ☐رد د مقام ملاحظه:_______

**پنځه لسمه موندنه**

د تشکیل په اړه د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواک کمیسیون ملاحظات رعایت شوي نه دي.

**تشریح**

د وزارت د تشکیل په اړه د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو کمیسیون ملاحظات په مکرر ډول اما په متفاوتو متنونو وزارت ته را استول شوي، پداسې حال کې چې په تشکیل کې وروستي تغیرات هم د یاد کمیسیون د ملاحظاتو سره سم نه دي ترتیب شوي اما منظوري یې یاد کمیسیون ورکړې ده چې د پوښتنې وړ ده. د مثال په توګه نوموړي کمیسیون په خپلو رسمي مکتوبونو کې د جلالتمآب ولسمشر او کابینې د پرېکړو په اساس غوښتنه کړې چې مالي او اداري معینیت دې عمومي ریاست ته تنزیل شي اما په پایله کې دا کار نه دی شوی اما همدغه تشکیل د کمیسیون لخوا د خپلو ملاحظاتو خلاف تائید شوی دی.

**وړ اندیز**

د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواک کمیسیون دې د یوې ځوابویونکې ادارې په توګه د کار او ټولنیزو چارو وزارت د ۱۳۹۹ کال په تشکیل کې د توپیري چلند په اړه خپل سپیناوی په لسو کاري ورځو کې د یوه راپور په بڼه جمهوري ریاست ته را واستوي. جلالتمآب ولسمشر دې د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواک کمیسیون په اړه څرنګه چې لازمه ګڼي هدایت ورکړي.

☐ تائید ☐رد د مقام ملاحظه:_______

**شپاړلسمه موندنه**

د ټولنیزو چارو معینیت اړوند ریاستونو تشکیل د کاري ورته والي له اړخه سره نږدې او د ادغام او بیاکتنې وړ دي.

**تشریح**

د وزارت د ټولنیزو چارو په معینیت کې د روزنتونونو لوی ریاست، د وړکتونونو لوی ریاست، د ماشومانو د ساتنې شبکې ریاست او د ټولنیزو تأمیناتو ریاست په تشکیلاتي لحاظ او د کاري ورته والي له اړخه سره نږدې دي او په اکثرو برخو کې مشابه اجراآت لري او د یادو ریاستونو د مسؤلینو په وینا چې له پلاوي سره یې په مخامخ ناستو کړي له یوبل څخه د کاري مداخلې سر ټکوي.

**وړ اندیز**

په وزارت کې د تشکلاتي تراکم د مخنیوي په موخه بهتره ده چې د ټولنیزو چارو معینیت درې ریاستونه (د وړکتونونو ریاست، د رزونتونونو ریاست او د ټولنیزو تأمیناتو ریاست) ولري او د معینیت نورې برخې دې د یادو ریاستونو تر چتر لاندې د آمریتونو په کچه تنظیم شي.

☐ تائید ☐رد د مقام ملاحظه:_______

**اووه لسمه موندنه**

د تشکیل په وروستنیو تغیراتو کې د پالیسۍ عمومي ریاست چې د وزارت محوري برخه بلل کیږي، یوه آمریت ته تنزیل شوې ده.

**تشریح**

دا چې د کار او ټولنیزو چارو وزارت یو له پالیسي جوړونکو وزارتونو څخه دی نو پکار ده چې د وزارت د پالیسۍ برخه پیاوړې شي اما وزارت پدې برخه کې لازمه توجه نلري. له همدې امله ده چې یاد وزارت د ټولنیز مصؤنیت پالیسۍ د جوړولو لپاره په داخلي تشکیل کې لازم ظرفیت نلري او غواړي د شاوخوا (۱۰۰۰۰۰ - ۱۵۰۰۰۰) امریکایي ډالرو په بدل کې یاده پالیسي جوړه کړي، البته د یادې پالیسۍ د جوړولو د څرنګوالي په هکله لازم توضیحات د راپور په اړونده برخه کې راغلي دي.

**وړ اندیز**

د ۱۴۰۰ مالي کال په تشکیل کې دې د پالیسي جوړونې په برخه کې د ریاست په کچه یو فعال واحد رامنځته شي ترڅو وزارت د پالیسي جوړونې له اړخه په خپلو داخلي امکاناتو متکي شي.

☐ تائید ☐ رد د مقام ملاحظه:______

**اته لسمه موندنه**

د مالي او حسابي ریاست او اداري ریاست سربېره د وړکتونونو په لوی ریاست کې د مالي او اداري او د روزنتونونو په لوی ریاست کې د څارنې او ارزونې څانګړي واحدونه په موازي شکل رامنځ ته شوی دی.

**تشریح**

د کار او ټولنیزو چارو وزارت د مالي او اداري معینیت تر چتر لاندې مالي او حسابي، تدارکاتي او اداري ریاستونه شتون لري چې دنده یې د ټول وزارت د مالی، اداري، حسابي او تدارکاتي چارو ته رسېدنه ده او همدا راز وزارت د څارنې او ارزونې څانګړی واحد لري چې د ټول وزارت د څارنې او ارزونې مسؤلیت به غاړه لري اما سره لدې د وړکتونونو په لوی ریاست کې د مالي او اداري په نوم بل واحد را منځته شوی او همدا راز د روزنتونونو په لوی ریاست کې د څارنې او ارزونې واحد را منځته شوی چې د تشکیلاتي تراکم تر څنګ یې کاري تداخل او د خپل سرۍ فرهنګ ته هم زمینه برابره کړې ده.

**وړ اندیز**

د ۱۴۰۰ مالي کال په تشکیل کې دې د وړکتونونو په لوی ریاست کې د مالي او اداري واحد او د روزنتونونو په لوی ریاست کې د څارنې او ارزونې واحد له منځه ولاړ شي او ټول لازم صلاحیتونه او مسؤلیتونه دې د وزارت اصلي واحدونو (مالي او حسابی ریاست او څارنې او ارزونې ریاست) ته انتقال شي.

☐ تائید ☐ رد د مقام ملاحظه:______

### نولسمه موندنه

د بشري سرچینو ریاست درې بیلابېل آمریتونه د کاري ورته والي له اړخه سره نږدې او د ادغام وړ دي.

### تشریح

د بشري سرچینو ریاست په خپل تشکیل کې (۶) آمریتونه لري چې له دې‌لې یې درې آمریتونه ( د اداري د پراختیا آمریت، کارکوونکو سره د اړیکو آمریت او ملکي خدماتو د ښځو څخه د ملاتړ آمریت) د کاری ورته والي له اړخه سره نږدې دي چې د تشکیلاتي تراکم سربیره یې په وزارت کې د بیروکراسی فرهنګ ته لار هواره کړې ده.

### وړ اندیز

د بشري سرچینو له درې آمریتونو ( د اداري د پراختیا آمریت، کارکوونکو سره د اړیکو آمریت او ملکي خدماتو د ښځو څخه د ملاتړ آمریت) څخه دې یوازې یو آمریت (کارکوونکو سره د اړیکو آمریت) پاتې شي چې په ریاست کې ټول څلور آمریته کیږي. د بشري سرچینو ټول وظایف دې پدې څلورو آمریتونو کې په مسلکي ډول ووېشل شي.

☐ تائید ☐رد د مقام ملاحظه:ــــــــــــ

### شلمه موندنه

د هېواد په کچه د روزنتونونو په تشکیلاتي جوړښت کې د انډول نه شتون.

### تشریح

د بېلګې په توګه د دوه ولایتونو تشکیلاتي جوړښت څخه یادونه کوو، د تخار ولایت د دولتي روزنتون تشکیلاتي جوړښت د (۱۹) تنه ښوونکو او کارکوونکو څخه جوړ دی په حال دا چې د پکتیکا ولایت د وزیر محمد اکبر خان روزنتون تشکیلاتي جوړښت له (۲) تنه ښوونکو او کارکوونکو څخه جوړ دی، چې یو بست یې (ښوونکی) لا هم تش دی.

په زابل، پکتیا، ارزګان، نورستان، پنجشېر، فاریاب، لوګر، بامیان، لغمان، میدان وردک او دایکندي ولایتونو کې تر دې دمه دولتي روزنتونونه نه دي جوړ شوي.

د یادولو وړه ده چې اوسمهال په ټولیزه توګه (۹۳۱۸) تنه یتیم، بې وسه او بې سرپرسته ماشومان په (۲۸) دولتي او (۴۰) خصوصي روزنتونو کې ساتل کېږي.

همدا راز په زابل، نورستان، پکتیکا او ارزګان ولایتونو کې وړوکتونونو شتون نلري.

### وړ اندیز

د کار او ټولنیزو چارو وزارت دې د ۱۴۰۰ مالي کال په تشکیل کې د هېواد په کچه د روزنتونونو تشکیلات و ارزوي او لازم انډول دې پکې رامنځته کړي او همدا راز د روزنتونونه او ړکتونونو په جوړولو کې دې هغو ولایتونو ته لومړیتوب ورکړل شي چې تر دې دمه پکې روزنتون او وړکتون نه دی جوړ شوی.

☐ تائید ☐رد د مقام ملاحظه:ــــــــــــ

## 2. د بهرنیو اتباعو د جواز صادرېدو په برخه کې موندنې

مخکې تردې چې د پلاوي مشخصو موندنو ته راشو، په عمومي ډول د ویلو ده چې له نوموړي وزارت سره د بهرنیو اتباعو کره شمېر چې د کار په موخه افغانستان ته راغلي نشته همدا راز تر اوسه وزارت معلومه کړې نده چې په هېواد کې څو تنه بهرني اتباع د کار جواز لري او څو تنه يې نلري او نوموړي کسان له کومو هېوادونو څخه په کوم تعداد افغانستان ته راغلي دي. مؤظف پلاوي د کار او ټولنیزو چارو وزارت د بهرنیو اتباعو د جواز صادرېدو برخه د وزارت د کاري احجامو او اړتیاوو په پام کې نیولو سره څېړلې ده چې پدې برخه کې شاوخوا (۴) عمده موندنې لري، د یادو موندنو تفصیل د هرې موندنې په تفکیک سره په لاندې ډول دی:

### لومړۍ موندنه

اکثره بهرني اتباع روغتونونو ته بالخصوص درې مشخصو روغتونونو (بلاسم، یسرا او سیتي) ته د صحي بیمې د تر لاسه کولو لپاره استول کیږي.

### تشریح

د بهرنیو اتباعو د کار جواز صادرولو ریاست ټول بهرني اتباع د اړوند تقنیني اسنادو خلاف روغتونونو بالخصوص درې مشخصو روغتونونو (بلاسم، یسرا او سیتي) ته استوي ترڅو د شاوخوا (۱۵۰) امریکایي ډالرو په مقابل کې صحي بیمه ترلاسه کړي، پداسې حال کې چې یاد روغتونونه د صحي بیمې د ورکړې قانوني صلاحیت نلري. او د تقنیني اسنادو او طرزالعمل مطابق بهرني اتباع د صحي بیمې په لرلو مکلف نه دي اما د وزیر په ځانګړي حکم له یادو کسانو څخه صحي

**د موندنو لنډیز:**

1. په ۱۳۹۹ مالي کال کې د بهرنیو اتباعو د کار جواز اړوند اسناد ناقص دي؛
2. ټول بهرني اتباع د بهرنیو اتباعو د استخدام مقررې خلاف صحي بیمې لرلو ته اړ شوي؛
3. د وزارت د رهبرۍ لخوا د قانون خلاف له بلاسم روغتون سره د صحي بیمې په اړه هوکړه لیک؛
4. له وزارت سره د بهرنیو کار ګرو درلودونکو بنسټونو د معلوماتو نشتون؛
5. د وزارت لخوا د بهرنیو اتباعو د کار جواز او دندو له څرنګوالي څخه پوره څارنه نه کول؛
6. د بهرنیو اتباعو د کار جواز اړوند الکترونیکی سیستم کې د لازمو تخنیکي ورتیاوو نشتون؛
7. د بهرنیو اتباعو د کار جواز د اړوند اسنادو د ساتنې لپاره د (Filling System) نشتون؛

[حمایوي اسناد له دویمې شمېرې ضمیمې سره مل دي ]

PASHWOK Afghan News

بیمه غوښتل کېږي. د یادونې وړ ده چې پدې وروستیو کې وزارت د وزیر په لاسلیک د اړوندو نافذه قوانینو خلاف له یوه خصوصي روغتون (بلاسم روغتون) سره هوکړه لیک لاسلیک کړی دی چې پر اساس یې ټول بهرني اتباع مکلف دي چې د کار جواز د اخیستو لپاره له یاد روغتون څخه د پیسو په بدل کې صحي بیمه تر لاسه کړي او وزارت مکلف دی چې د بل هیڅ بنسټ صحي بیمه و نه مني.

**وړ انديز**

له بلاسم روغتون سره د وزارت د وزیر په لاسلیک غیر قانوني تفاهملیک په اړه جلالتمآب جمهور رئیس څرنګه چې لازمه ګڼي هدایت وکړي.

☐ تائید ☐رد د مقام ملاحظه:______

**دویمه موندنه**

په ۱۳۹۹ مالي کال کې د بهرنیو اتباعو د کار جواز اړوند اسناد ناقص دي.

**تشریح**

بهرني اتباع د اړوند طرزالعمل مطابق مکلف دي چې د کار جواز د اخیستو پر مهال ویزه، پاسپورت، د صحي تصدیق اسناد، د استخدام قرارداد او نور اړین اسناد له ځان سره ولري. په ۱۳۹۹ مالي کال کې د بهرنیو اتباعو د کار جواز اړوندو دوسیو ته په کتو سره د اکثرو بهرنیو اتباعو د کار جواز اړوند اسناد ناقص دي، د ویزې کاپي، پاسپورت کاپي، صحي تصدیق او نور اړین اسناد د بېلابېلو مراجعینو په اړوند دوسیو کې شتون نلري. همدا راز د بهرنیو اتباعو د کار جواز د اړوند اسنادو د ساتنې او خوندیتوب په موخه هیڅ ډول تدابیر او سیستم (Filling System) شتون نلري، بلکې یاد اسناد په یوه خونه کې پرته له دوسیه بندی په خورا بې نظمۍ امبار شوي دي، پداسې حال کې چې د بهرنیو اتباعو د جواز پروسه یوه حساسه پروسه ده نو د لازم احتیاط سربېره باید بشپړ محرمیت یې تأمین وي اما د یاد ریاست مسؤلینو دا ټول حساسیتونه له پامه غورځولي دي. سربېره پردې کوښښ شوی ترڅو د بهرنیو اتباعو د جواز پروسه پیچلې شي ترڅو د سؤاستفادې زمینه برابره شي.

**د بهرنیو اتباعو د جواز ورکولو اړوند اسنادو خونه (آرشیف)**



## ور اندیز

د بهرنیو اتباعود جواز پروسې له اسنادو سره غیر مسلکي برخورد او همدا راز د صحي بیمې او صحي تصدیق په برخه کې د یاد ریاست اړوند مقررې خلاف کړنو ته په کتو سره سپارښتنه کېږي چې د یاد ریاست رئیس دې له دندې ګوښه شي او پر ځای یې یو وړ شخص د آزاد رقابت له لارې پر دنده وګمارل شي.

PAJHWOK
Afghan News

☐ تائید ☐رد د مقام ملاحظه:______

## دریمه موندنه

د بهرنیو اتباعو د جواز ورکړې ریاست د بهرنیو کارکوونکو د څارنې په موخه مشخص طرزالعمل نلري.

## تشریح

د اړوند مقررې پر بنسټ وزارت مکلف دي چې په هېواد کې د بهرنیو کارکوونکو د جواز ورکړې پروسه وڅاري اما یاد وزارت په دولتي او غیر دولتي بنسټونو کې د خارجي اتباعو د کار جواز د څرنګوالي او همدا شان د یادو کسانو د دندې د څرنګوالي څخه د څارنې په موخه مشخص طرزالعمل نلري او همدا راز د ټولو هغو دولتي او غیر دولتي بنسټونو مکمل او د اعتبار وړ لیست او نور اړین معلومات چې بهرني کارکوونکي یې استخدام کړي دي نلري. همدا راز په حدود د (۹۰) سلنه بنسټونه چې بهرني اتباع یې ګمارلي دي د وزارت د څارنې تر پوښښ لاندې ندي راغلي. د یادونې وړ ده چې بهرني اتباع د یادې مقررې پر بنسټ مکلف دي ترڅو د یو کال په موده کې افغان کارکوونکو ته تخصصي او فني مهارتونه انتقال کړي اما داچې دا موضوع څومره رعایت شوې ده د څرنګوالي په اړه یې وزارت څارنه نده کړې.

د یادونې وړ ده چې په وزارت کې بهرنیو اتباعو ته د کار جواز او ورسره څنګ له یادې پروسې څارنه په عین یوه ریاست کې کیږي چې دا کار د کارې او تشکیلاتي اصولو خلاف او لازم موثریت نلري.

**وړ اندیز**

د موضوع استخباراتي او امنیتي اړخ ته په کتو سره، د کار او ټولنیزو چارو وزارت او بهرنیو چارو وزارت مکلف دي ترڅو د دوو میاشتو په ترڅ کې د بهرنیو اتباعو د جواز له پروسې او د هغوی دندو د څرنګوالي په اړه د څارنې په موخه مشخص طرزالعمل تدوین او د منظورۍ په موخه جمهوري ریاست ته را واستوي. د ۱۴۰۰ مالي کال په تشکیل کې دې د بهرنیو اتباعو د کار جواز له څرنګوالي څخه د څارنې دنده د وزارت په دننه او بهر کې د یاد وزارت د بهرنیو اتباعو د کار جواز د ورکولو ریاست څخه واخیستل شي او د کار د تفتیش ریاست ته دې وسپارل شي.

☐ تائید ☐رد د مقام ملاحظه:______

**څلورمه موندنه**

د بهرنیو اتباعو د کار جواز اړوند الکترونیکی سیستم د اړینو راپورونو د ورکولو او نورو تخنیکي سهولتونو وړتیا نلري.

**تشریح**

مؤظف پلاوي ته د اړوند ریاست د رسمي معلوماتو د ورکړې په اساس، د بهرنیو اتباعو د کار جواز اړوند الکترونیکی سیستم د اړینو راپورونو د ورکولو وړتیا نلري. د مثال په توګه دا سیستم نشي کولی د هغو جوازونو چې د اعتبار موده یې ختمه ده توحیدي راپور چمتو کړي. لدې امله ددې پروسې او د اړوند ریاست د کړنو څارنه او ارزونه ستونزمنه ده او همدا راز خپله وزارت هم نشي کولی د اړتیا پر مهال لازم معلومات په لږ وخت کې ترلاسه کړي. سربېره پردې یاد ریاست د ټولو بهرنیو اتباعو کره شمېر چې افغانستان ته د کار په موخه راغلي نلري چې له امله یې د هغو اتباعو شمېر چې تر اوسه یې جواز ندی تر لاسه کړی معلومېدای نشي.

د یادونې وړ ده چې بهرنیو اتباعو د جواز قیمت (۲۰۰) امریکایي ډالر او د افغان کارکوونکو د مختلفو جوازونو قیمت له (50) الی (۶۰۰) افغانیو دی چې لدې برخې څخه د ترلاسه شویو عواید شمېر ددې راپور په مالي او تدارکاتي برخه کې په تفصیل سره ذکر شوي دي.

**وړ اندیز**

د کار او ټولیزو چارو وزارت دې د احصائیې او معلوماتو ملي ادارې او د مخابراتو او معلوماتي تکنالوژۍ وزارت سره په همغږۍ د بهرنیو کارکوونکو د جواز ورکړې سیستم و ارزوي او لازم اصلاحات دې پکې راولي.

☐ تائید ☐رد د مقام ملاحظه:______

## 3. د څارنې او ارزونې برخه کې موندنې

مؤظف پلاوي د کار او ټولنیزو چارو وزارت د څارنې او ارزونې برخه د وزارت د کاري حجم او اړتیاوو په پام کې نیولو سره څېړلې ده چې پدې برخه کې شاوخوا (۴) عمده موندنې لري، د یادو موندنو تفصیل د هرې موندنې په تفکیک سره په لاندې ډول دي:

### لمړی موندنه

د څارنې او ارزونې په موخه تر اوسه کومه ځانګړې تګلاره شتون نلري.

### تشریح

د کار او ټولنیزو چارو وزارت د داخلي څارنې تر څنګ دنده لري ترڅو له خصوصي روزنتونونو او ورکتونونو او همدا راز د ملی او نړیوالو همکارو موسسو له کړنو څخه څارنه وکړي چې پدې اساس یاد وزارت ته ډیره اړینه ده چې د څارنې او ارزونې یو منظم طرزالعمل او معیاري سیستم ولري. اما د مؤظف پلاوي د موندنو په اساس نوموړی وزارت د څارنې او ارزونې کوم مشخص طرزالعمل نلري.

**د موندنو لنډیز:**

1. د څارنې او ارزونې په موخه د مشخصې لیکلې تګلارې نشتون؛
2. په وزارت کې د څارنې او ارزونې په موخه د موازي واحدونو رامنځته کول؛
3. د انکشافي پروژو د پلي کیدو له څرنګوالي څخه د څارنې نه ترسره کېدل؛
4. له همکارو موسسو او بنسټونو سره د لاسلیک شویو تفاهم لیکونو څخه څارنه نه کول؛

[حمایوي اسناد له دریيمې شمیرې ضمیمې سره مل دي]

### ور اندیز

د کار او ټولنیزو چارو وزارت دې تر درې میاشتو د داخلي څارنې تر څنګ له خصوصي روزنتونونو او ورکتونونو او همدا راز د ملی او نړیوالو همکارو موسسو له کړنو څخه د څارنې یو معیاري طرزالعمل جوړ کړي او د منظورۍ په موخه دې جمهوري ریاست ته را واستوي.

☐ تائید ☐ رد د مقام ملاحظه:______

**دویمه موندنه**

د څارنې او ارزونې په موخه د وزارت په بیلابیلو برخو کې موازي واحدونه رامنځته شوي دي.

**تشریح**

د څارنې او ارزونې په موخه د وزارت په تشکیل کې د څارنې او ارزونې تر عنوان لاندې یو ځانګړی ریاست شتون لري اما د دې ترڅنګ د روزنتونونو په لوی ریاست او همدا راز د اکثرو انکشافي پروژو په تشکیل کې د څارنې په موخه ځانګړي واحدونه په موازي ډول شتون لري حال داچې د یادو برخو د څارنې کار نیمګړی دی او ښکاري چې ددې ډول موازي جوړښتونو یوازنۍ موخه د تشکیل زیاتول او په چارو کې د څارنې او ارزونې د اصلي برخې لاس لنډول دي.

**ور اندیز**

د ۱۴۰۰ مالي کال په تشکیل کې دې د وزارت له رسمي تشکیل څخه د څارنې او ارزونې فرعي جوړښتونه او همدا راز د ټولو انکشافي پروژو له تشکیل څخه دې د څارنې او ارزونې برخې حذف شي او ټول لازم صلاحیتونه دې د څارنې او ارزونې یوازنې ریاست ته انتقال شي.

☐ تائید ☐رد د مقام ملاحظه:______

**درېیمه موندنه**

د څارنې او ارزونې ریاست د وزارت د انکشافي پروژو د پلي کېدو له څرنګوالي څخه لازمه څارنه نه ده ترسره کړې.

**تشریح**

د مؤظف پلاوي د موندنو په اساس په وزارت کې شپږ انکشافي پروژې د پلي کیدو په درشل کې دي اما یادې پروژې د وزارت د څارنې او ارزونې له ریاست سره لازمه همغږي نلري او همدا راز اړین ارقام او معلومات د یاد ریاست په اختیار کې نه ورکوي او یاد ریاست نه دی توانېدلی ترڅو د پروژو کار لړۍ له څرنګوالي څخه څارنه ترسره کړي. د پلاوي له نظره ددې ستونزې لاملونه د څارنې او ارزونې په ریاست کې د لازم ظرفیت نشتون او په انکشافي پروژو کې د څارنې او ارزونې موازي واحدونه چې د وزارت د رهبري پلاوي لخوا د څارنې او ارزونې په چارو کې سلیقوي چلند ښيي، ده.

**ور اندیز**

د ۱۴۰۰ مالي کال په تشکیل کې دې د څارنې او ارزونې تشکیل اصلاح او د څارنې او ارزونې اړوند ټول صلاحیتونه دې ورکړل شي.

☐ تائید ☐رد د مقام ملاحظه:______

**څلورمه موندنه**

له همکارو موسسو او نورو بنسټونو سره د لاسلیک شویو تفاهم لیکونو څخه څارنه نه ده ترسره شوې.

**تشریح**

وزارت په 1399 و 1400 مالي کلونو کې له هغو همکارو موسسو او نور بنسټونو سره چې د مرسته کوونکو هېوادونو او بنسټونو د برنامو د پلي کيدو قرارداد يې ترلاسه کړی دی، لسګونه تفاهم ليکونه لاسليک کړي دي چې په يادو تفاهم ليکونو کې يې وزارت ته د څارنې او ارزونې صلاحيت ورکړی دی، اما وزارت له هيڅ تفاهم ليک څخه څارنه نه ده ترسره کړې چې له امله يې د هېواد په کچه د بېرنيو مالي مرستو حيف او ميل ته زمينه هواره شوې ده. همدا راز وزارت له (۴۲) خصوصي روزنتونونو سره تفاهم ليک لري چې پر اساس يې يادو روزنتونونو د فعاليت جواز تر لاسه کړی اما تر اوسه له هيڅ يوه خصوصي روزنتون څخه څارنه نه ده شوې.

**وړ انديز**


جلالتماب جمهور رئيس دي د ياد وزارت د ټولنيزو چارو معين ته د کاري غفلت له امله څرنګه چې لازمه ګڼي هدايت وکړي. د کار او ټولنيزو چارو وزارت دې يوه اونۍ کې داخلي کمېټه وټاکي ترڅو د يوې مياشتې په موده کې ټول تفاهم ليکونه و ارزوي او د څارنې په موخه يې تطبيقي پلان ترتيب او عملي کړي.

☐ تائيد ☐رد د مقام ملاحظه:________


PAJHWOK
Afghan News

## 4. د مالي او تدارکاتي برخې موندنې

د کار او ټولنيزو چارو وزارت لپاره په (۱۳۹۹) مالي کال کې (۱،۴۵۶،۱۷۸،۶۲۸) يو ميليارد او څلور سوه شپږ پنځوس ميليونه او يو سلو اته اويا زره او شپږ سوه اته ويشت افغانۍ عادي بودجه منظور شوې وه چې ياد وزارت (۹۲٪) سلنه د کال تر پايه مصرف کړې ده. او (۳۱۴،۹۵۳،۶۷۳) درې سوه څوارلس ميليونه او نهه سوه درې پنځوس زره او شپږ سوه درې اويا افغانۍ د پراختيايي بودجې لپاره منظور شوي وې چې د کال تر پايه د کار او ټولنيزو چارو وزارت (۷۸،۷۵٪) سلنه په مصرف رسولې ده.




همدارنګه په (۱۳۹۹) مالي کال کې د کار او ټولنيزو وزارت عوايد چې د بېلا بېلو منابعو څخه لاس ته راغلي دي (۱۰۹،۶۴۳،۶۳۲) يو سلو نهه ميليونه او شپږ سوه درې څلوېښت زره او شپږ سوه دوه دېرش افغانۍ دي. د دې رقم جزيات به لاندې جدول کې ښودل شوي دي.



همدا رنګه د هیئت موندنې چې لنډیز یې په مخکنۍ برخه کې ورکړل شوې دی، لاندې هره موندنه د اړتیا وړ معلوماتو سره په تفکیک د هرې موندنې سره په جلا توګه وړاندې کیږي.

## لومړۍ موندنه

په ۱۳۹۹ مالي کال کې د شاوخوا ۳۸ میلیونه افغانیو په ارزښت د اړتیا وړ توکي په پرچون ډول پیرل شوي دي.

### تشریح

په ۱۳۹۹ مالي کال کې د (۱۹۰۱۱۸۷۳) نولس میلیونه او یولس زره او اته سوه او دري اویا افغانیو په ارزښت توکي په پرچون توګه رانیول شوی چې دا کړنې د تدارکاتو د قانون یوولسمې او دولسمې مادې، پنځلسمې مادې دوهمې فقرې او د تدارکاتو د طرزالعمل د نهم حکم دوهمې فقرې پر خلاف دي. د اړوند تقنیني اسنادو په اساس اداره مکلفه ده د اړونده تدارکاتو پلان په لاس کې د شته وجوهو مقیاسي سپما (صرفه جویي)، مناسب وخت او نورو اړوند چارو په پام کې نیولو سره ترتیب کړی، خو وزارت اړونده تقنیني اسناد په نظر کې ندي نیولي.

د دغه توکو بیه چې په لاندې ترتیب سره په اووه برخو کې تشریح کیږي په پرچون توګه رانیول شویدي:

- د (۱۱۳۱۳۰۰) یو میلیونه او یوسلو یودیرش زرو او دري سوه افغانیو په ارزښت مایع ګاز او د تیکو سکاره اخیستل شویدي.
- د (۱۷۷۹۲۴۲) یو میلیونه او اووه سوه نهه اویا زره او دوه سوه دوه څلویښت افغانیو په ارزښت د کارکوونکو لپاره کالي اخیستل شویدي.
- د (۵۲۰۰۳۴۰) پنځه میلیونه او دوه سوه زره او دري سوه څلویښت افغانیو په ارزښت د تکنالوژي وسایل اخیستل شویدي.
- د (۴۷۶۲۵۵۰) څلور میلیونه او اووه سوه دوه شپیته زره او پنځه سوه پنځوس افغانیو په ارزښت د دوه ډوله تیل اخیستل شویدي.
- د (۲۲۲۷۶۸۴) دوه میلیونه او دوه سوه اووه ویشت زره او شپږ سوه څلور اتیا افغانیو په ارزښت فرنیچر اخیستل شویدي.

**د موندنو لنډیز:**

1. د قانون خلاف په پرچون ډول د (۳۸) ملیونو افغانیو په ارزښت د توکو پیرل؛
2. په ۱۳۹۹ مالي کال کې د تدارکاتو ځانګې له لوري د اړتیاوو د تثبیت پروسه نه پلي کېدل؛
3. له تېرو پنځو کلونو څخه وزارت په مسلسل ډول شاوخوا (۳۵) ملیونه افغانۍ پورورۍ پاتې کېدل؛
4. خدمتي کارکوونکو او د روزنتونو ماشومانو ته د ژمني او پسرلني کالیو نه اخیستل؛
5. په ۱۳۹۹ مالي کال کې د پروپوزل او تخصیص خلاف د بودجې لګول؛
6. په ۱۳۹۹ مالي کال کې د وزارت له بودجې څخه کلیدي رئیسانو ته پور ورکول؛
7. د وزارت مقام مشاورینو او نورو کلیدي (۲۱) کسانو ته له انکشافي پروژو د لوړ معاش ورکول؛
8. په ۱۴۰۰ مالي کال کې د مالیې وزارت له موافقې پرته بالمقطع کارکوونکو ته د معاشونو ورکول؛
9. په ۱۳۹۹ مالي کال کې له انکشافي بودجې څخه د شخصي لګښت لپاره د پیسو منظوربدل؛
10. په ۱۴۰۰ مالي کال کې د (۶۴) ملیونه افغانیو په ارزښت د مالیې وزارت لخوا پرته له کوم پلان او پروپوزل څخه د انکشافي بودجې منظوربدل.

[حمایوي اسناد له څلورمې شمیرې ضمیمې سره مل دي]

- د (۱۳۰۰۳۰۲) یو میلیونه او درې سوه زره او درې سوه دوه افغانیو په ارزښت خوراکي توکي اخیستل شویدي، او
- د (۲۶۱۰۴۵۵) دوه میلیونه او شپږ سوه لس زره او څلور سوه پنځه پنځوس افغانیو په ارزښت د موټرو پرزې اخیستل شویدي.

**ور اندیز**

دا چې د تدارکاتو د قانون یوولسمې او دولسمې مادې، پنځه لسمې مادې دوهمې فقرې او د تدارکاتو د طرزالعمل د نهم حکم دوهمې فقره نقض شوې ده، وړاندیز کیږي چې د وزارت د مالي او تدارکاتی برخې ښکېل کسان دې عدلي او قضایي ارګانونو ته معرفي شي، او په راتلونکې کې د تدارکاتو ریاست مکلف دی چې د تدارکاتو د قانون او طرزالعمل په اساس خپلې کړنې ترسره کړي.

☐ تائید ☐ رد د مقام ملاحظه:______

**دویمه موندنه**

د کار او ټولنیزو چارو وزارت د تدارکاتو له لوري د اړتیاوو د تثبیت پروسه نه ده پلې شوې.

**تشریح**

د کار او ټولنیزو چارو په وزارت کې د تدارکاتو ریاست د اړتیاوو د تثبیت مهمه دنده نده ترسره شوې چې له امله یې د یاد وزارت پر بودجې او تدارکاتي برخو باندې ناوړه اغېزې کړې دي. د یادولوو وړ ده چې د تدارکاتو د قانون یوولسمه او دولسمه ماده نقض شوې ده.

د تدارکاتو ریاست د پلان جوړونې لوی مدیریت د دندو په لایحه کې په وضاحت سره لیکل شوي چې د اړتیاوو د تثبیت مدیریت او پلان جوړونه د دې مدیریت یوه اړینه دنده ده. اما دا مدیریت او په ټولیزه توګه د تدارکاتو ریاست د دې ادارې د اړتیاوو په تثبیت کې په تېرو دریو مالي کلونه کې پاته راغلی چې له امله یې د تدارکاتو احکام په پام کې ندي نیول شوي. د یادونې وړ ده چې له همدې وجهې د تدارکاتو ریاست له لوري د قانون خلاف د مقام او معینیتونو د سپارښتنو پر اساس تدارکات شوي دي. حتی تر دې چې پرته له دې چې د بودجې تخصیص او تعهد موجود وې، توکي پېرودل شوي دي .

**ور اندیز**

د تدارکاتو رئیس دې له دې امله چې خپلې اړونده چارې یې د قانون مطابق ندي ترسره کړي چې له امله یې د وزارت په مالي او تدارکاتي برخو کې سؤ استفادې او خپل سریو ته لاره هواره شوې ده، له دندې ګوښه او یاد بست دې د وړ کس د ګمارلو په موخه د یوې میاشتې په ترڅ کې اعلان ته وسپارل شي.

☐ تائید ☐ رد د مقام ملاحظه:______

**درېیمه موندنه**

د کار او ټولنیزو چارو وزارت له تېرو پنځو کلونو څخه د (۳۵۰۹۶۴۶۵) پنځه دېرش میلیونه شپږ نوي زره او څلور سوه پنځه شپېته افغانیو په ارزښت پوروړی دی.

**تشریح**

د مالي او حسابي او تدارکاتو رياستونو د تدارکاتو د قانون د دولسمې مادې د دریمې فقرې او د تدارکاتو د طرزالعمل د دولسم حکم دويمې فقرې په خلاف د مالي تعهد، تخصيص او کافي بودجې په نشتون کې د تدارکاتو پروسې پر مخ وړي دي او په ځینو برخو کې یې په اړوندو چارو کې ځنډ کړی دی چې له امله يې په تېرو پنځو کلونو کې وزارت (۳۵۰۹۶۴۶۵) پنځه دېرش میلیونه شپږ نوي زره او څلور سوه پنځه شپېته افغانی له بېلا بېل شرکتونو څخه پوروړی پاتې دی او ياد وزارت ددې باقیاتو په ورکولو کې تر اوسه نه ده بریالی شوی. د یاد رقم جزئیات په لاندې ډول دي:

- په تېرو دريو مالي کلونو کې د (۱۹۹۷۲۹۵۲) نولس میلیونه نهه سوه دوه اویا زره او نهه سوه دوه پنځوس افغانیو په ارزښت پرته له دې چې مالي او حسابي رياست څخه مالي تعهد یا په بودجه کې تخصيص ولري، له بېلا بېلو شرکتونو څخه مختلف توکي رانیول شویدي چه په ښکاره توګه د تدارکاتو د طرزالعمل د اتم حکم او نهم حکم څخه سرغړونه ده.
- د (۵۵۲۱۳۹۷) پنځه میلیونه پنځه سوه یوویشت زره او درې سوه اووه نوي افغانیو په ارزښت باقيات د مالي او حسابي رياست ته د اسنادو د نه تسليمولو په نتيجه کې پر ياد وزارت باندې باقي پاته دي.
- د (۲۲۴۴۳۷۷) دوه میلیونه دوه سوه څلورڅلوېښت زره او درې سوه اووه اویا افغانیو په ارزښت د مالي کال د ختمېدو په وجهه په ياد وزارت باندې باقي پاته دي.
- د (۶۴۸۲۴۵۱) شپږ میلیونه څلور سوه دوه اتيا زره او څلور سوه یو پنځوس افغانیو په ارزښت په AFMIS سیستم کې د شرکتونو د حساب نمبر نه لرلو، په AFMIS کې پیسو د وزارت لاسرسی نلرلو په دلیل په وزارت باندې باقي پاته دي.
- او د (۸۴۸۲۸۸) اته سوه اته څلوېښت زره او دوه سوه اته اتيا افغانیو په ارزښت په کار کې د ځنډ کولو له امله په ياد وزارت باندې باقي پاته دي.

**ور انديز**

دا چې د مالي تعهد، بودجوي تخصيص او کافي بودجې په نشتون کې تدارکات په خپل سري ډول ترسره شوي دي چې له امله يې د تدارکاتو د قانون د دولسمې مادې دريمه فقره او د تدارکاتو د طرزالعمل د دولسم حکم دویمه فقره نقض شوې ده، نو په موضوع کې ښکېل کسان دې عدلي او قضائي ارګانونو ته معرفي شي.

☐ تائيد ☐رد د مقام ملاحظه:__________

## څلورمه موندنه

خدمتي کارکوونکو (د وزارت د مرکز او دوهم واحدونو) او د روزنتونو ماشومانو ته د ژمني او پسرلني کاليو په اخیستلو کې پاتي راغلي دي.

**تشریح**

په ۱۳۹۹ مالي کال کې د کار او ټولنیزو چارو وزارت د خدمتي کارکوونکو (د وزارت د مرکز او دوهم واحدونو) او د روزنتونو ماشومانو ژمني او پسرلني کالیو په اخیستلو کې پاتې راغلي دي.
د ۱۳۹۹ مالي کال لپاره په تدارکاتي پلان کې د خدمتي کارکوونکو او روزنتونونو ماشومانو لپاره پنځه میلیونه افغانۍ ځانګړې شوي وې، اما د کرونا ویروس سره د مبارزې لپاره د صحی توکو د رانیولو لپاره د یادې بودجې څخه (۲۰۰۰۰۰۰) دوه میلیونه افغانۍ تعدیل او په مصرف رسېدلي دي، نو له همدي امله په تدارکاتي پلان کې د خدمتي کارکوونکو او روزنتونونو ماشومانو کالیو لپاره (۳۰۰۰۰۰۰) دري میلیونه افغانۍ پاتې شوي. په داسي حال کې چې د بازار ارزوني په اساس د خدمتي کارکوونکو او روزنتونونو ماشومانو د کالیو پېرلو لپاره د (۴۶۴۴۰۲۳) څلور میلیونه او شپږ سوه څلورڅلوېښت زره او درویشت افغانیو اړتیا وه نو وزارت د کافي بودجې د نه شتون په بهانه یاد توکي نه دي پیرلي. خو په همدې کال کې د (۱۷۷۹۲۴۲) یو میلیون او اووه سوه نهه اویا زره او دوه سوه دوه څلوېښت افغانیو په ارزښت په پرچون ډول کالي اخیستل شویدي اما یادو اړمنو کسانو ته نه دي ورکړل شوي بلکې خاصو کسانو ته د سپارښتنې په اساس توزیع شوي دي او وزارت په یاد کال کې د بودجې له کمښت سره هم نه وه مخ شوی (یاد وزارت په نوموړي کال کې د عادي بودجې ۹۲% او د پراختیایي بودجې ۷۸،۷۶% په مصرف رسولې ده).

**وړ اندیز**

د مالیې وزارت ته دې دنده وسپارل شي ترڅو د کره شواهدو او مؤجه دلایلو د نشتون په صورت کې او د اړوند وزارت د بودجې له ارزونې مخکې د وزارتونو په بودجه کې د داخلي تعدیل له راوستلو څخه ډډه وکړي.

☐ تائید ☐رد د مقام ملاحظه:__________

## پنځمه موندنه

د ورتیاوو د پراختیا ملي برنامې (NSDP) څخه د وزارت د مقام کنفرانس روم د تجهیزولو او جوړولو لپاره (۷،۲) اووه اعشاریه دوه میلیونه افغانۍ اخستل شوي دي.

---

**تشریح**

هغه بودجه چې د وزارت د مقام د جلسو تالار د تجهیزولو او جوړولو لپاره د NSDP برنامې څخه تعدیل شوي وه د مالي او اداری معینیت د جلسو تالار لپاره ورڅخه استفاده شوې ده. دا په داسې حال کې ده چې د نوموړو پیسو نیمائي برخه په غیر ضروري توکو او همدارنګه د مالي او اداري معین د دفترونو په تجهیزاتو او تزئیناتي برخو باندې مصرف شوي ده، د یادولو وړ ده چې په کنفرانس روم کې استفاده شوي توکي د کیفیت او کمیت له لحاظه د قرارداد د محتوا په خلاف دي.
د بیلګې په توګه په قرارداد کې د د جلسو تالار کړکیو ته (۲۱)ذره ښیښې په نظر کې نیول شوي چې اندازه یې ۱۵۰*۱۵۰ سانتي متر ښودل شوې په داسې حال کې چې ۱۱۵*۱۱۲ سانتي متر ښیښې ورته لږول شوي دي او د ظاهري جوړښت له کبله نوموړې ښیښې چاک شویدي. د یادونې وړ ده چې په د جلسو تالار کې (۱۶) ذره ښیښې نصب شوي او باقي یې چې قیمت یې (۲۶۴۳۷۵) دوه لکه او څلور شپېته زره او دري سوه پنځه اویا افغانۍ کیږي بیرون د د جلسو تالار نه د مالي او اداري معینیت په دفترونو کې نصب شوي دي چې ټول (۲،۲۶۹،۲۸۱) دوه میلیونه دوه سوه او نهه شپېته زره دوه سوه او یو اتیا افغانۍ د کنفرانس روم نه د باندې په مصرف رسېدلي دي.

**وړ اندیز**

د وزارت د کنفرانس روم په جوړېدو کې استفاده شوي توکي د کیفیت او کمیت له لحاظه د قرارداد د محتوا په خلاف دي د قراردادي کارونه باید وزارت د داخلي پلټنې ریاست له لوري وپلټل شي او د قانون مطابق دې پدې اړه اجراآت وشي.

☐ تائید ☐رد د مقام ملاحظه:__________

## شپږمه موندنه

په ۱۳۹۹ مالي کال کې د ورتیاوو د پراختیا ملي برنامې (NSDP) له نقدي معتمد څخه (۶۶۹۱۲۵) شپږ سوه او نه شپیته زره یو سل او پنځه ویشت افغانۍ نغدې پیسې اخستل شوي دي چې بېرته نه دي ورکړل شوي.

### تشریح

په ۱۳۹۹ مالي کال کې د ورتیاوو د پراختیا ملي برنامې (NSDP) له نقدي معتمد څخه (۶۶۹۱۲۵)شپږ سوه او نه شپیته زره یو سل او پنځه ویشت افغانۍ نغدې پیسې اخستل شوي چې له دې جملې (۵۶۹۱۲۵) پنځه سوه او نه شپیته زره یو سل او پنځه ویشت افغانۍ یې د یادې پروژې د رئیس له لوري او (۱۰۰۰۰۰) سل زره افغانۍ یې د وزارت د مقام مشاور او د ریاست دفتر سرپرست له لوري د پور په ډول اخستل شوي او بېرته نه دي ورکړل شوي.

### ور اندیز

د ا چې په ۱۳۹۹ مالي کال کې د دولت پیسې د شخصي لګښتونو لپاره د دې برنامې د رئیس له طرفه اخیستل شویدي او ۱۳۹۹ مالي کال هم پوره شویدی، نوموړي کسان باید د یوې میاشتې په ترڅ کې اخیستل شوی پور د ورتیاوو د پراختیا ملي برنامې (NSDP) نقدي معتمد ته د عوایدو د بورد د 1352/12/12 نېټې (174) شمېرې پرېکړې مطابق د (۱۲)سلنې جریمې سره بېرته ورکړي.

☐ تائید ☐رد د مقام ملاحظه:__________

## اوومه موندنه

د وزارت مقام او معینیتونو (۲۱) کارکوونکو ته د پروژو د بودجې څخه معاشونه حواله شوي دي.

### تشریح

د ورتیاوو د پراختیا ملي برنامه (NSDP) چې په ملي کچه په فني او حرفوي برخه کې کسان روزي. د پلاوي موندنې ښیي چې د وزارت د مقام د یو شمیر سلاکارانو سربېره د معینیتونو یو شمیر کارکوونکي چې ټول شمیر یې (۲۱) تنو ته رسیږي له همدې پروژې څخه معاش اخلی. دا په داسې حال کې ده چې نوموړي کسان د پروژې اړونده چارو کې کوم مسؤولیت نلری او د وزارت په نورو برخو کې په کار بوخت دي.

### ور اندیز

په ۱۴۰۰ مالي کال کې دې د یادو کسانو معاش له دې پروژې څخه قطع شي .

☐ تائید ☐رد د مقام ملاحظه:__________



PAJHWOK Afghan News

## اتمه موندنه

په ۱۴۰۰ مالي کال کې ځینو باالمقطع کارمندانو ته د مالیې وزارت د موافقې پرته معاشونه حواله شوي دي.

### تشریح

د کار او ټولنیزو چارو وزارت باالمقطع کارکوونکو لپاره په ۱۴۰۰ مالي کې ځانګړې بودجه نه لري او نوموړې کارکوونکو ته معاشونه د رسمی کارکوونکو د معاشونو له کوډ نه اجرا کوي دا په داسې حال کې ده چې د باالمقطع کارکوونکو د معاشونو د حواله کولو لپاره باید د مالیې وزارت څخه کتبي موافقه واخستل شي، اما د هئیت موندنې ښې چه (۱۲۶) باالمقطع کارکوونکو ته د ۱۴۰۰ مالي کال د مرغومې او سلواغې میاشتې معاشونه چې (۱،۹۰۸،۶۵۸) یو میلیون او نه سوه اته زره او شپږ سوه اته پنځوس افغانی معاشونه پرته د مالیې وزارت له کتبي موافقې څخه حواله شوي دي، او دا لړۍ پاتې نورو باالمقطع کارکوونکو ته دوام لري. دا په داسې حال کې ده چې د مالي چارو او عامه لګښتونو د اداره کولو قانون د (۱۲) دولسمې مادې پر بنسټ دولتي ادارې یوازې په هغه صورت کې عامه پیسې لېږلی او یا ژمنه کولی شي چې د مالیې وزارت یې د لېږلو اجازه د مالي کال د تخصیصونو د فورم له لارې هغو ته تائید او په لیکلي توګه صادره کړې وي.

### وړ اندیز

دا چې د مالي چارو او عامه لګښتونو د اداره کولو قانون (۱۲) دولسمه ماده نقض شوې ده، مسؤول یا ښکېل کسان دی عدلي او قضائي اورګانونو ته معرفي شي.

☐ تائید ☐رد د مقام ملاحظه:__________

## نهمه موندنه

د وړتیاوو د پراختیا ملي برنامې (NSDP) رئیس ته د وزارت د مقام له طرفه د (۵،۰۰۰) پنځه زره امریکایي ډالرو پیشنهاد د شخصي لګښت لپاره منظور شوی دی.

### تشریح

د وړتیاوو د پراختیا ملي برنامې (NSDP) د ۱۳۹۹ مالي کال د حمل د میاشتې په اوولسمه نېټه د وړتیاوو د پراختیا ملي برنامې (NSDP) رئیس په توګه په (۲۱۳۳۳۳) دوه سوه دیارلس زره او درې سوه درې دېرش افغانیو میاشتني معاش باندې و ګمارل شو. نوموړي ۱۳۹۹ مالي کال د قوس په میاشت کې د خپلې ماسټرې دورې د فیس د ورکولو پیشنهاد د وزارت مقام ته وکړ چې د وزارت د مقام له لورې هم منظور شوی دی. حال داچې د وړتیاوو د پراختیا ملي برنامې (NSDP) رئیس په ۱۳۹۴ کال کې د ماسټرې دورې محصل وو او د ماسټرې دوره یې درې کاله مخکې پای ته رسېدلې ده. د وزارت مقام ددې پیشنهاد په منظورېدو سره د جمهوري ریاست عالي مقام حکم څخه چې "په هیڅ وجه شخصي مصارف د دولت د بودجې څخه د اجرا وړ ندي" سرغړونه کړې ده. د یاد کس مصرف په شخصي مصرف کې حسابېږي، د دولت له بودجې څخه د تادیې وړ ندي.

### سپارښتنه:

د وړتیاوو د پراختیا ملي برنامې (NSDP) له رئیس څخه دې یادې پیسې د یوې میاشتې په ترڅ کې بېرته حصول شي او دا چې د وزارت مقام او د وړتیاوو د پراختیا ملي برنامې (NSDP) رئیس پیشنهاد منظور کړی دی، د ریاست جمهوري د عالي مقام له حکم څخه یې سر غړونه کړېده، د جمهوري ریاست عالي مقام دې په دې اړه څنګه چې لازمه ګڼي هدایت وکړي.

□ تائید □رد د مقام ملاحظه:ـــــــــــــ

### لسمه موندنه

مالیې وزارت د کار او ټولنیزو چارو زوارت درېوو پراختیایي پروژو ته له استول شویو پروپوزلونو یا دفاعیو څخه (۶۴) میلیونه افغانی اضافي بودجه ورکړې ده.

---

### تشریح

دکار او ټولنیزو وزارت د ۱۱ سرحدي ولایتونو په نوم پراختیایي برنامه لري خو دا برنامه له تېرو دوو کلونو راهیسې نه تطبیقیږي او وزارت هم د دې برنامې لپاره ښکاره پلان نلري اما د مالیې وزارت لخوا د یادې پروژې لپاره په نامعلوم دلیل (۳۰) ملیونه افغانی بودجه ورکړل شوې ده. سربېره پردې د یاد وزارت د نتیجې تر عنوان لاندې پروژه کې د وزارت له پروپوزل څخه (۱۰) ملیونه افغانی اضافي بودجه او د افغان- هند ښوونیزه پروژه کې (۲۴) ملیونه اضافي بودجه ورکړل شوې ده. د ا په داسې حال کې ده چې د کار او ټولنیزو چارو وزارت د NSDP برنامې لپاره د PLACED برنامې څخه مالیې وزارت ته پرته له دې چې د PLACED برنامې سره همغږي یا تفاهم شوی وي د ۲۰ میلیونه افغانیو د تعدیل پیشنهاد استولی دی. پدې معنی چې له یوې خوا د مالیې وزارت پرته لدې چې اړوند وزارتونه ځانګړی پروپوزل او پلان ورکړي په خپلسرې توګه د وزارتونو اړوند کوډونو ته بودجه ورکوي او له بلې خو د کار او ټولنیزو چارو وزارت ددې پر ځای چې د دولت له نورو شته مالي امکاناتو کار واخلي د ځانګړو سلیقو پر بنسټ یوه پروژه د بلې قرباني کوي چې دا حالت د بودجوي امکاناتو د ناسالم مدیریت ښکارندویي کوي او د پوښتنې ور ده.

**سپارښتنه:**

د مالیې وزارت دې هغه اضافي بودجه چې د کار او ټولنیزو چارو وزارت اړوند پروژو ته پرته له پروپوزل او پلان څخه استول شوې ده بېرته وګرځوي. جلالتمآب جمهور رئیس دې د مالیې او کار او ټولنیزو چارو وزارت ته د بودجې د ناسالم مدیریت په هکله څرنګه چې لازمه ګڼي هدایت وکړي.

□ تائید □رد د مقام ملاحظه:ـــــــــــــ

## 5. روزنتونونو او وړوکتونونو کې موندنې

مؤظف پلاوي د روزنتونونو او وړکتونونو په برخه کې د کار او ټولنيزو چارو وزارت کاري احجامو او د ياد وزارت کار ي پلانونو ته په کتو سره ياده برخه څېړلې له چې پدې برخه کې (۷) موندنې لري، د هرې يوې موندنې جزئيات په لاندې ډول دي.

### لومړۍ موندنه

د ټاکل شويو موخو سره سم د يتيم او زيانمنو ماشومانو د پروژې د بودجې نه لګول.

### تشريح

د ماشومانو د ساتنې د شبکې رياست کې د يتيم او زيانمن ماشومانو تر سرليک لاندې يوه پروژه د لاندې موخو د لاسته راوړلو لپاره رامنځ ته شوې چې د دولت د پراختيايي بودجې څخه تمويلېږي.

- د ماشومانو د ساتنې د ملي برنامې وروستي کول
- د ماشومانو د حقونو څخه د ملاتړ د ملي پاليسۍ وروستي کول
- د ماشومانو د (۱۲) ساتندويه ملي معيارونو تدوين او وروستي کول
- د هېواد په (۱۰) ولسواليو کې د ماشومانو د ساتنې د شبکې د کړنو پراختيا
- د کابل حمايوي مکز فعال ساتل او له دې لارې کورنيو ته د خطر سره مخ (۵۰۰) ماشومانو بېرته ورستنول
- د هېواد په درې زونونو (ختيځ، شمال او مرکز) کې د ماشومانو د درې حمايوي مرکزونو فعالول
- د يونسف له ادارې څخه د کاري شبکو د تسليمۍ د ستراتېژۍ تدوين او د دې شبکې په پښو درول

**د موندنو لنډيز:**

1. په ۱۳۹۹ مالي کال کې د ټاکل شويو موخو سره سم د يتيم او زيانمنو ماشومانو د پروژې د بودجې نه لګول؛
2. د ماشومانو د حمايوي مرکزونو په رامنځته کولو کې د جمهوري رياست عالي مقام د هدايت نه پلي کېدل؛
3. د وړکتونونو په برخه کې د کار او ټولنيزو چارو وزارت او پوهنې وزارت ترمنځ مقرراتي ستونزې؛
4. له (۱۸) کلنۍ څخه وروسته په روزنتونونو کې د شاملو بې سرپرسته هلکانو ناڅرګند برخليک؛
5. د مرکز په روزنتونونو کې بې کيفيته او غير صحي خواړه؛
6. د مختلفو کټګوريو ماشومانو د کره شمېر په هکله د ډېټابېس نه شتون؛
7. په وړکتونونو کې د کوچې ماشومانو تر پوښښ لاندې نه راتګ.

[حمايوي اسناد له پنځمې شمېرې ضميمې سره مل دي]

- د سوالکرو او هغه ماشومانو سروې چې د سړک په سر کار کوي او د هغو ماشومانو په (۳۵) کورنیو چې ډېر د خطر سره مخ دي د ځان بسیاينې د میکانیزم پلې کول

په دې پروژه کې (۲۰) میلیونه افغانۍ په ۱۳۹۹ کال کې او (۵۵) میلیونه افغانۍ په ۱۴۰۰ کال کې په پام کې نیول شوي دي. یاده پروژه د تاکل شوی موخو مطابق نه ده پلې شوې.

د بېلګې په ډول؛ په ټولیزه توګه (۱۷)تنه په قراردادي او حکمي ډول له دې پروژې څخه هر یو حداکثر تر (97,333) افغانیو پورې میاشتنی تنخوا ترلاسه کوي، چې له دې ډلې څخه (۳) تنه د مشاور او حقوقي کارپوهانو په صفت د ټولنیزو چارو معینیت او د وزارت مقام کې په حکمي ډول مقرر دي او د یتیم او زیانمنو ماشومانو له پروژې څخه لوړې تنخواوې ترلاسه کوي (د پروژې له ټولې بودجې څخه له (۵۰ سلنه) څخه زیاته بودجه د معاشاتو په ورکولو لګېږي).

**وړ اندیز**

په ۱۴۰۰ مالي کال کې دې د یادې پروژې اداري مصارف کم شي. همدا راز د یاد مالي کال له پیل څخه دې د مشاور تر عنوان لاندې بست د یادې پروژې له تشکیل څخه بهر شي او د نورو برخو د مشاورینو معاش دې هم لدې پروژې څخه قطع شي.

☐ تائید ☐رد د مقام ملاحظه:__________

**دویمه موندنه**

د مختلفو کټګوریو ماشومانو د کره شمېر په هکله د ډېټابېس نه شتون؛

---

**تشریح**

د ماشومانو د ساتنې د شبکې ریاست په تشکیل کې، د (پذیرش، احصائیه او د ماشومانو د ډېټابېس لوی مدیریت) تر سرلیک لاندې یو مدیریت شتون لري، مګر تر دې دمه د زیانمنو ماشومانو ډېټابېس په کار او ټولنیزو چارو وزارت کې نه دی فعال شوی. یاد وزارت د ماشومانو د ارقامو په هکله د نورو نړیوالو بنسټونو له احصائیې څخه استفاده کوي.

**وړ اندیز**

د هېواد زیانمنو ماشومانو په اړه د کره معلوماتو لرلو او ورته د ښه رسېدنې په موخه، اړتیا لیدل کېږي ترڅو د کار او ټولنیزو چارو وزارت دې د احصائیې ملي ادارې سره په همغږي د درې میاشتو په ترڅ کې د هېواد (۲۳) کټګوریو زیانمنو ماشومانو ته ډېټابېس رامنځ ته کړي.

☐ تائید ☐رد د مقام ملاحظه:__________

**دریمه موندنه**

د مرکز په روزنتونونوکې بې کیفیته او غیر صحي خواړه.

---

**تشریح**

د مرکز په روزنتونونو کې د ماشومانو د خوړو قرارداد چې هر کال د بېلابېلو شرکتونو سره کېږي، د تهیه مسکن له روزنتون څخه د عملي لیدنې او په یاد روزنتون کې د ماشومانو د استازو د شکایتونو په اساس پاخه شوي خواړه غیر صحي دي او د لاسلیک شوي قرارداد سره سم نه وېشل کېږي.

**ور اندیز**

د کار او ټولنیزو چارو وزارت دې د روزنتونونو او وړکتونونو د خوراکي توکو څخه د دوامدارې څارنې په موخه د چارو ادارې له لوري څارنه وشي.

☐ تائید ☐رد د مقام ملاحظه:__________

**څلورمه موندنه**

له (۱۸) کلنۍ څخه وروسته په روزنتونونوکې د شاملو بې سرپرستو هلکانو ناڅرګند برخلیک.

**تشریح**

د روزنتون په مقرره کې د یتیم او بې سرپرسته ماشومانو په وړاندې د دې بنسټ مسؤلیت د ۱۲ ټولګي څخه د فارغېدو او د ۱۸ کلنۍ عمر پوره کولو پورې تړاکل شوی دی. له هغې وروسته په دې برخه کې کومه ځانګړې طرزالعمل او پالیسي شتون نلري ترڅو د هغې پر اساس د یادو ماشومانو سرنوشت وټاکل شي. هغه نارینه ماشومان چې د هېواد په روزنتونونو کې قانوني سن ( ۱۸ کلنۍ) ته رسېږي اما سرپرست نلري، پرته د دې موضوع په پام کې نیولو څخه چې د دوی سرنوشت به څه کېږي، دوی په خپل حال پرېښودل کېږي چې دا موضوع په راتلونکي کې د ډېرو ستونزو د رامنځته کېدو لامل کېږي. دا پداسې حال کې ده چې د اړوند مقررې سره سم ښځینه ماشومان له (۱۸) کلنۍ پورته تر هغو چې یې واده نه وي کړی د روزنتونونو لخوا یې سانته او پالنه کېږي.

**ور اندیز**

د کار او ټولنیزو چارو وزارت دې د عدلیې وزارت سره په همغږۍ د روزنتونونو په اړوند مقرره بیاکتنه وکړي او تر (۱۸) کلنۍ وروسته ماشومانو ته د هغوی د لوړو زده کړو او کار کولو په اړه دې پکې لازم تدابیر په نظر کې ونیول شي.

☐ تائید ☐رد د مقام ملاحظه:__________

**پنځمه موندنه**

د وړکتونونو په برخه کې د کار او ټولنیزو چارو وزارت او پوهنې وزارت ترمنځ مقرراتي ستونزې.

**تشریح**

له ښوونځي څخه د مخکې دورې (د وړکتون دوره) د حکومت د دوو وزارتونو (د کار او ټولنیزو چارو وزارت او پوهنې وزارت) تر منځ په حقوقي لحاظ روښانه نه ده، پدې معنی چې دواړه وزارتونه ددې دورې د ماشومانو به هکله ځان ته مداخلې او تصمیم نیونې حق ورکوي چې له امله یې په وړکتونونو کې د ماشومانو د شاملولو په برخه کې په دوه وزارتونو کې دوه جلا پروسیجرونه طی مراحل کېږي او هم د شاګردانو د اولیاوو د سرګردانۍ لامل کېږي او له بله پلوه خصوصي سکټور مجبور دی د وړکتون لپاره د دواړو وزارتونو څخه دوه جلا جوازونه واخلي.

**ور اندیز**

د پوهنې او کار او ټولنیزو چارو وزارتونه دې د عدلیې وزارت سره په همغږۍ د وړوکتونونو او د ښوونځي څخه د مخکې دورې تعلیماتو د قوانینو او مقررو د تعدیل په برخه کې اقدام وکړي او د ماشومتوب د لومړنۍ دورې او د ښوونځي څخه د مخکې دورې د چمتو کولو دنده دې د کار او ټولنیزو چارو وزارت ته وسپارل شي.

☐ تائید ☐رد د مقام ملاحظه:__________

**شپږمه موندنه**

د ماشومانو د حمایوي مرکزونو د رامنځته کولو د طرحې وړاندې کولو په برخه کې د عالي مقام د هدایت نه پلي کېدل.

**تشریح**

د ا.ا جمهوري ریاست عالي مقام د ذهني وروسته پاتې ماشومانو لپاره د حمایوي مرکزونو رامنځته کولو په اړه د (2003) شمېرې 1399/5/25 نېټې هدایت په ترڅ کې داسې فرمایلي دي.

**"کمیته تخنیکی تحت نظرمنان صاحب موظف گردد تا مبنای حقوقی طرح را بررسی و بعدا به همکاری وزارت محترم کارو امور اجتماعی، وزارت دولت در امور شهداو معلولین، وزارعدلیه و وزارت صحت عامه به شمول سره میاشت و دیگر نهاد های مربوط طرح عملی را توام با پلان تطبیقی آن ترتیب نماید."**

تر دې دمه د طرحې او تطبیقي پلان په اړه د عالي مقام هدایت د کار او ټولنیزو چارو وزارت له خوا نه دی پلی شوی.

**وړ اندیز**

د کار او ټولنیزو چارو وزارت (د ماشومانو د ساتنې ریاست) دې د عالي مقام د هدایت پلي کېدو او ذهني کمزورۍ لرونکو ماشومانو ته د رسېدنې په برخه کې د طرحې د جوړېدو او اړوند حقوقي اړخ د څرنګوالي په اړه د عالي مقام د هدایت سره سم په (۱۵) کاري ورځو کې جمهوري ریاست ته راپور ورکړي.

☐ تائید ☐رد د مقام ملاحظه:__________

**اوومه موندنه**

په وړوکتونونو کې د کوچي ماشومانو تر پوښښ لاندې نه راتګ.

**تشریح**

د کار او ټولنیزو چارو وزارت د هېواد ټولو ماشومانو ته د حقونو د رعایت او انډول په پام کې نیول له اصل پرته کار کړی او تر دې دمه نه دی توانېدلی چې کوچي ماشومان تر پوښښ لاندې راوړي او یاد ماشومان په وړوکتونونو کې شامل کړي.

**وړ اندیز**

د کار او ټولنیزو چارو وزارت دې په ۱۴۰۰ مالي کال کې په دوهمه نیمایي کې بودجوي امکانات برابر او د کوچي ماشومانو د ملاتړ په موخه لږ تر لږه په هر زون کې یو وړوکتون رامنځته کړي او د وړوکتونونو د لوی ریاست تر چتر لاندې دې کوچي ماشومانو ته د لازمې رسېدنې لپاره لاره هواره کړي.

☐ تائید ☐رد د مقام ملاحظه:__________

PAJHWOK
Afghan News

### 6. د فني او حرفوي مهارتونو د ودې په برخه کې موندنې

مؤظف پلاوي د وزارت د فني او حرفوي زده کړو په برخه کې د کار او تولنیزو چارو وزارت کاري حجم او د یاد وزارت کار ي پلانونو ته په کتو سره یاده برخه څېړلې له چې پدې برخه کې (۴) عمده موندنې لري، د هرې یوې موندنې جزئیات په لاندې ډول دي.

**لمړۍ موندنه**

د تصدیق ورکولو او ارزونې د کمیسیون نه اغېزمنتوب.

---

**تشریح**

**د موندنو لنډیز:**

1. د ورتیاوو د پراختیا ملي پروژې (NSDP) کې د لازم اغېزمنتوب نشتون.
2. بهر ته د کار کرانو د استولو او په هېواد کې د ننه د کارموندنې په پروژه (PLACED) کې د لازم پرمختګ نشتون او د نړیوالو مالي مرستو ضایع کول.
3. له کوریا هېواد سره د (۱۰) میلیونه ډالرو په ارزښت د هوکړه لیک په پلي کولو کې د چارو د لازم پرمختګ نشتون.
4. د تصدیق ورکولو او ارزونې د کمیسیون نه اغېزمنتوب.

[حمایوي اسناد له شپږمې شمیرې ضمیمې سره مل دي]

په ۱۳۹۸ کال کې د کار او ټولنیزو چارو وزارت له خوا د وړتیاوو د ودې ملي برنامې (NSDP) په تشکیلاتي جوړښت کې د لاندې موخو د لاسته راوړلو لپاره د تصدیق ورکولو او ارزونې تر سرلیک لاندې یو کمیسیون رامنځته شوی دی:

- د کار د بازار د اړتیاوو سنجول
- ښوونیزو مؤسساتو ته اعتبار ورکول، درسي برنامې(تعلیمي نصابونه) او ښوونکي او روزونکي
- د وړتیا د تصدیق پاڼې د ورکولو لارښود چمتو کول
- څارنه، بررسي او د کیفیت تضمین
- څېړنه او پراختیا
- د مأخذ کتابونو تألیف او ژباړه

یاد کمیسیون تر دې دمه د ښوونیزو، مسلکي او فنی مرکزونو فارغانوته هېڅ ډول تصدیق ورکول نه دی ترسره کړي ترڅو د کار د نړیوال بازار د اړتیاوو سره سم د هېواد نه بهر د وړتیا لرونکو کارکوونکو لېږلو ته لاره هواره شي. او د اټکل شویو موخو سره سم یې هېڅ ډول لاسته راوړنه نه ده لرلې.

## وړ انديز

اقتصادي شرایطو او د کار په بازار کې تکړه او د شرایطو وړ کارکوونکو د ګمارنې ګړندي بهیر ته په کتو، د کار او ټولنیزو چارو وزارت دې په ۱۴۰۰ مالي کال کې د فني او حرفوي زده کړو په برخه کې د ارزونې او تصدیق ورکولو پروسه ژر تر ژره پیل کړي او حد اقل په روان کال کې دې د (۱۰۰۰) زرو شاوخوا د کار نړیوال بازار پر شرایطو برابر کسان تشخیص کړي.

☐ تائید ☐رد د مقام ملاحظه:__________

### دویمه موندنه

له کوریا هېواد سره د (۱۰) میلیونه ډالرو په ارزښت د هوکړه لیک په پلي کولو کې ناسمه استفاده او د چارو د لازم پرمختګ نشتون.

---

### تشریح

د کار او ټولنیزو چارو وزارت په ۱۳۹۹ کال کې د یوه غوره ملي ښوونیز مرکز په توګه د افغان کوریا د ښوونیز مرکز د لوړولو په موخه د کوریا لوري ته وړاندیز وکړ چې په پایله کې د همکاری هوکړه لیک د (۱۰) میلیونه ډالرو په ارزښت د دواړو هېوادونو ترمنځ لاسلیک شو او پلي کوونکی یې د یونسکو دفتر دی. دا برنامه باید د ۲۰۲۴ کال پورې بشپړه شي.

د یادې پروژې موخو او لومړیتوبونو ته په کتو سره تر اوسه په دې برخه کې د پام وړ ګام نه دی اخیستل شوی. د پلاوي له نظره موجوده وضعیت ته په کتو به دا برنامه په ټاکلي وخت بشپړه نه شي چې په پایله کې به دا مالي امکانات ضایع شي.

د یادونې وړ ده چې د کوریا هېواد له ۲۰۰۹ کال را پدې خوا په کلنۍ ډول (100،000) سل زره امریکایي ډالر د مالي ملاتړ په موخه یاد مرکز ته ورکوي، پداسې حال کې چې له یادو مرستو څخه د مرکز د چارو د ودې او پراختیا په موخه کار نه اخیستل کېږي د مثال په توګه په ۱۳۹۹ مالي کال کې له یادو مرستو حخه یې (89700) ډالر د تشویقي کومکونو په نوم د دې ښوونیز مرکز ښوونکو او کار کوونکو ته ورکړل شوي دي چې د پوښتنې وړ موضوع ده.

## وړ انديز

د کار او ټولنیزو چارو وزارت دې د افغان کوریا ښوونیز مرکز مسؤل په اړوند پروژه کې د لازم پرمختګ د نشتون او د کوریا هېواد د مرستو څخه د ناسمې ګټه اخیستنې په موخه له دندې منفک او یاد کس دې عدلي او قضایي ارګانونو ته معرفي شي.

وزارت دې په دوه میاشتو کې دې د یاد ښوونیز مرکز په تشکیل او کاري برنامو کې لازم اصلاحات راوړي او د مالي کال په پای کې دې د نوموړي مرکز د اصلاحاتو او لاسته راوړنو راپور جمهوري ریاست ته را واستوي.

☐ تائید ☐رد د مقام ملاحظه:__________

**دریمه موندنه**

د وړتیاوو د پراختیا ملي پروژې (NSDP) کې د لازم اغېزمنتوب نشتون.

---

**تشریح**

د وړتیاوو د پراختیا ملي پروژه (NSDP) د کار او ټولنیزو چارو په وزارت کې اوږده کاري مخینه لري، یاده پروژه د هېواد په کچه یو له مهمو پروژو څخه ده چې د دولت له اختیاري بودجې څخه تمویلیږي. په ۱۳۹۹ مالي کال کې د یادې پروژې بودجه شاوخوا (۲۱۵) ملیونه افغانۍ او په ۱۴۰۰ مالي کال کې شاوخوا (۲۷۰) ملیونه افغانۍ ده. اما د یادې پروژې لاسته راوړنې د قناعت وړ نه دی د مثال به توګه یاده پروژه له (۱۵) کلونو شاوخوا را پدې خوا تر اوسه نه ده توانیدلې چې د نړیوال کار مارکېټ پر معیار فني او حرفوي کارګر وروزي. د دې پروژې څخه فارغ کسان له هېواده بهر د کار کولو لازمه وړتیا او د فراغت معیاري سند نلري چې له امله یې تر اوسه بهر ته هیڅ کارګر نه دی استول شوی. په یاده پروژه کې له امکاناتو څخه شخصي ګټه اخیستنه لکه د پروژې د رئیس د پوهنتون د فیس ورکول، بهرني سفرونه، سلیقوي ګمارنې، د پروژې له بودجې څخه د وزارت مقام او اړوند معینیتونو یو شمېر مشاورینو او کارکوونکو ته لوړ معاش ورکول او نورې ناسمې ګټه اخیستنې شوې دي. په ۱۳۹۹ کال کې د یادې پروژې (100550548) سل ملیونه او پنځه سوه پنځوس زره او پنځه سوه اته څلوېښت افغانۍ بودجه چې د پروژې د مجموعي بودجې (47) سلنه جوړوي او د ټولې مصرف شوې بودجې له نیمایي څخه زیاته برخه جوړوي، یوازې د کارکوونکو معاشونو کې مصرف شوې ده.

**وړ اندیز**

جلالتماب جمهور رئیس دې د کار او ټولنیزو چارو وزارت کې د وړتیاوو د پراختیا ملي پروژه (NSDP) د دوام یا نه دوام په څرنګوالي څرنګه چې لازمه ګڼي، هدایت وکړي.

☐ تائید ☐رد د مقام ملاحظه:__________

**څلورمه موندنه**

بهر ته د کار ګرانو د استولو او په هېواد کې د ننه د کارموندنې په پروژه (PLACED) کې د لازم پرمختګ نشتون او د نړیوالو مالي مرستو ضایع کول.

---

**تشریح**

بهر ته د کار ګرانو د لېږد او په هېواد کې د ننه د کارموندنې پروژه (PLACED) په ۲۰۱۸ کال کې د نړیوال بانک د (ARTF) برخې په مالي ملاتړ د کار او ټولنیزو چارو وزارت کې پیل شوې ده. ددې پروژې د تعین شویو موخو په اساس باید په پنځو کلونو کې تر پنځه زره کارګر بهر استول شوي وای، پداسې حال کې چې تر اوسه هیڅ افغان کارګر ددې پروژې له لارې بهر ته د کار په موخه نه دی استول شوی. یاده پروژه کې د وړتیاوو د پراختیا ملي پروژې (NSDP) په څیر له مالي امکاناتو څخه شخصي ګټه

اخیستنه لکه بهرني سفرونه، سلیقوي ګمارنې، د پروژې له بودجې څخه د وزارت مقام او اړوند معینیتونو یو شمېر مشاورینو او کارکوونکو ته لوړ معاش ورکول او نورې ناسمې ګټه اخیستنې شوې دي. د یادونې وړ ده چې د نړیوال بانک اوس لدې پروژې څخه خپل مالي ملاتړ قطع کړی دی او یو دلیل یې د پروژې ناسم پرمختګ دی چې له امله یې لس ګونو زره افغان کار ګرانو په هېواد کې دننه او له هېواد بهر د کارموندنې چانس له لاسه ورکړی او دولت هم د (ARTF) بنسټ د یونیم ملیون ډالرو د جذب چانس له لاسه ورکړی دی. د یادونې وړ ده چې د وزارت د تشکیلاتي جوړښت په اساس یاده پروژه باید د وزارت د کار معینیت تر چتر لاندې فعالیت وکړي اما نوموړې پروژه د غیر مؤجه دلایلو پر اساس مستقیماً د وزارت مقام تر چتر لاندې فعالیت کوي.

**وړ انديز**

د یادې پروژې مدیریتي اړخ دې د کار معینیت ته وسپارل شي. وزارت دې په دوه میاشتو کې د یادې پروژې په تشکیل او کاري برنامو کې لازم اصلاحات راوړي او د مالي کال په پای کې دې د نوموړې پروژې د اصلاحاتو او لاسته راوړنو راپور جمهوري ریاست ته را واستوي.

☐ تائید ☐رد د مقام ملاحظه:________

## 7. د ټولنیزو تأميناتو په برخه کې موندنې

مؤظف پلاوې د ټولنیزو تأميناتو په برخه کې د کار او ټولنیزو چارو وزارت کاري حجم او د یاد وزارت کار ي پلانونو ته په کتو سره یاده برخه پلټلې چې پدې برخه کې (2) عمده موندنې لري، د هرې یوې موندنې جزئیات په لاندې ډول دي.

**لمړی موندنه**

د ټولنیز خوندیتوب د پالیسۍ نه شتون.

**تشريح**

د کار او ټولنیزو چارو وزارت په تشکیلاتي جوړښت کې، د (ټولنیزو تأميناتو د تنظیم او پالیسۍ) تر سرلیکونو لاندې ریاستونه فعالیت کوي، دا ریاستونه تر دې دمه د ټولنیز خوندیتوب پالیسۍ په جوړېدو نه دي توانېدلي.

د کار او ټولنیزو چارو وزارت د یونسف په مالي همکارۍ د ټولنیز خوندیتوب د پالیسۍ جوړولو په موخه، یاده پالیسي اعلان ته سپارلې ده چې درې کمپنیو ورته د (189,866)، (89,700) او (۱۳۳،۴۹۶) امریکایي ډالرو په ارزښت د نرخ ورکړی او شارټ لېسټ شوي دي. او قرار داد به له دې دریو څخه یوې کمپنۍ ته ورکول کېږي.

**د موندنو لنډيز:**

1. د دولتي کارکوونکو د خسارې د جبران له کوډ څخه استفاده نه کول.
2. د ټولنیز خوندیتوب د پالیسۍ نه شتون.

[حمایوي اسناد له اوومې شمیرې ضمیمې سره مل دي]

**وړ انديز**

د ټولنیز خوندیتوب پالیسۍ دې د همکارو وزارتونو په همکارۍ سره جوړه شي.

☐ تائید ☐رد د مقام ملاحظه:____________

**دویمه موندنه**

د دولتي کارکوونکو د خسارې د جبران له کوډ څخه استفاده نه کول

---

**تشریح**

په (3000209037650) حساب کې د خسارې د جبران په نوم یو کوډ فعال دی او تر دې دمه په دې حساب کې (150,000,00) یو سل او پنځوس میلیونه افغانی راټولې شوې دي. تر دې دمه لدې حساب څخه د حقوقي جوړښت (د کار اړوند د صحي ضرر د خسارې جبران اخیستلو او ورکولو په اړه طرزالعمل او د وزارتونو ترمنځ هوکړه لیک) د نه شتون له امله د حواله جاتو د اجراء کار نه دی پیل شوی.

د خسارې د جبران مخکنۍ مقرره چې د رسمي جریدې په (791) شمېرې (1420 هـ،ق) کال کې خپره شوې وه تعدیل شوې او په (1343) شمېرې 1398 کال په رسمي جریده کې نشر شوې ده.

د دې مقررې په اساس اداري مکلف دي ترڅو د دولت د کارکوونکو له میاشتني معاش نه (۱ سلنه) له ټولې بودجې څخه وضع کړي. د دې مقررې د (اتمې مادې په دوهم جزء) کې داسې راغلي چې غیردولتي ادارې، مختلط دولتي او خصوصي شرکتونه، ټولنیزې رسنۍ، مؤسسات او په افغانستان کې بهرني او نړیوال سازمانونه مکلف دي ترڅو هره میاشت د (۱ سلنې) معادل د کارکوونکو معاش د اداري بودجې څخه وضع کړي او یاد حساب ته یې واستوي اما داچې آیا نوموړي بنسټونو دا ژمنه څومره ترسره کړې ده وزارت کره معلومات او ارقام نلري.

**وړ اندیز**

د کار او ټولنیزو چارو وزارت دې اړوندو وزارتونو، ادارو او بنسټونو سره په همغږۍ حقوقي جوړښت (د وزارتونو ترمنځ طرزالعمل او هوکړه لیک) رامنځ ته کړي ترڅو د یاد کوډ لا فعالولو او استفادې ته لاره هواره شي.

☐ تائید ☐رد د مقام ملاحظه:____________

## نتیجه ګیري (پایله)

لکه څرنګه چې د راپور په پیل کې یادونه شوې ده، مؤظف پلاوي په ۱۳۹۹/۱۲/18 نېټه د جمهوري ریاست د مشخص هدایت په اساس د کار او ټولنیزو چارو وزارت د یو شمېر برخو بررسي پیل کړه چې په ټوله کې یادې بررسۍ (16) کاري ورځې واخیستې.

د کار او ټولنیزو چارو وزارت د خپلې کاري موخو او وظایفو له اړخه د حکومت یو له مهمو وزارتونو څخه شمېرل کېږي چې کړنې یې نېغ په نېغه په ټولنه او خلکو تأثیر لري. د پلاوي د موندنو په اساس، یاد وزارت د مدیریت او رهبرۍ له اړخه د قناعت وړ نه دی یعنې د وزارت د اړوندو برخو تر منځ او له بهرنیو همکارو بنسټونو سره لازمه همغږي نشته، د وزارت مختلفو برخو کوښښ کړی ترڅو خپلې چارې په خپل سرې توګه پرته لدې چې اصولو او د وزارت تشکیلاتو او سلسله مراتبو ته پوره ژمن وي، ترسره کړي دي.

له نوموړي وزارت سره د بهرنیو اتباعو کره شمېر چې د کار په موخه افغانستان ته راغلي نشته همدا راز تر اوسه وزارت معلومه کړې نده چې په هېواد کې څو تنه بهرني اتباع د کار جواز لري او څو تنه یې نلري.

د کار مارکېټ په تنظیم او پراختیا کې د وزارت ونډه د قناعت وړ نده. وزارت تر اوسه ندی توانېدلی چې یو افغان کارګر هم له هېواده بهر د کار په موخه واستوي پداسې حال کې چې د ځلوېښت زرو شاوخوا کسان بهر ته د لیږلو په موخه له یاد وزارت سره ثبت دي. همدا راز یاد وزارت له تیرو پنځو کلونو راپدې خوا په خصوصي او دولتي سکټور کې د ګمارل شویو کسانو کره شمیر نلري او همدا ډول د بیکارۍ کچې په اړه تازه ارقام ورسره نشته. یاد وزارت په هېواد کې د (۲۳) مختلفو کټګوریو زیانمنو ماشومانو چې ټول شمېر یې د وزارت د معلوماتو په اساس (۴،۰۰۰،۰۰۰)څلور ملیونه تنو ته رسیږي د ساتنې او پالنې مسؤلیت لري اما له یادې شمېرې څخه یې یوازې یوه سلنه ماشومان تر پوښښ لاندې لري.

د وزارت په مختلفو برخو کې له صلاحیتونو څخه د سؤاستفادې او سلیقوي ګمارنو بېلګې شته او په وزارت کې د پلان، پالیسۍ او څارنې او ارزونې برخو فعالیت د قناعت وړ نه دی چې له امله یې د کاري برنامو څرګند موثریت نشي اټکل کېدای، د وزارت رهبرۍ هم کوښښ کړی ترڅو د وزارت عمده چارې صرفاً له رهبرۍ سره د یوې مستقیمې کاري کړښې له لارې ترسره شي.

د وزارت په تشکیلاتو کې وروستي تغیرات مسلکي، تخصصي او د اړتیا مطابق نه دي ترسره شوي د پلاوي په اند په تشکیلاتو کې تغیرات د شخصي سلیقو او فردي نظریاتو پر بنا ترسره شوي دي چې متوقعه مثبت اثر به ونلري دا تغیرات یوازې ددې لامل شوي ترڅو یو شمېر کارکوونکي دنده له لاسه ورکړي او بس.

د یادونې وړ ده چې مؤظف پلاوي مخکې تر دې چې اړوند راپور چمتو کړي د چارو ادارې د رهبرۍ په مشوره یې خپلې موندنې د وزارت له رهبرۍ سره شریکې کړې ترڅو یاد وزارت د موندنو په اړه خپل مؤجه دلایل او ملاحظات له پلاوي سره شریک کړي. وزارت د پلاوي د موندنو په هکله خپل ملاحظات په رسمي ډول شریک کړي دي چې په نوموړو ملاحظاتو کې د پلاوي اکثرې موندنې تآئید شوي دي او په بعضې مواردو کې د وزارت ملاحظات لدې امله چې د نافذه قوانینو په رڼا کې نه وه چمتو شوي

مؤجه و نه بلل شول. د مثال په توګه وزارت د وارسي کوونکو تر عنوان لاندې د ګمارنو دلیل په رسمي ګمارنو کې ځنډ بللی دی پداسې حال کې چې د استخدام په پروسه کې ځنډ د غیر قانوني ګمارنو دلیل نشي کېدای.
د وزارت پورتني وضعیت ته په کتو، په اوسني تشکیلاتي او کاري جوړښت کې د پورته سپارښتنو د پلي کیدو سربېره په وزارت کې د اساسي او اغېزمنو تغیراتو په موخه په دوهم پړاو کې مؤظف پلاوی لاندې وړاندیز کوي:

## وړ اندیز

د کار او ټولنیزو چارو وزارت دې په دوو ځانګړو بودجوي واحدونو (د کار تنظیمولو ملي اداره او د ماشومانو د ساتنې او ملاتړ ملي اداره) ووېشل شي ترڅو د یوه نوي تشکیلاتي جوړښت او موثر کاري پروګرام سره د خلکو په چوپړ کې وي. درښت

☐ تائید ☐رد د مقام ملاحظه:__________

PAJHWOK Afghan News

**مؤظف پلاوی**

سیدمقیب الله هاشمی صدیق الله همدرد غلام ربانی آزاد

عبدالخالق الکوزی محمدخسرو مدافع آمنه جامی

منورخان صافی د څارنې او ارزونې ریاست مرستیال
او د پلاوي عمومی مسئول

# د پلاوي د موندنو او اړوند سپارښتنو جدول

| شمیره | موندني | ور اندیز | د مقام هدایت |
|---|---|---|---|
| | | د بشري سرچینې او تشکیل برخه کې سپارښتنې | |
| 1 | د وزارت په رسمي کارکوونکو کې (100) سل تنه او په قراردادي کارکوونکو کې (۱۹) تنه له آزاد رقابت پرته په دنده ګمارل شوي دي. | د لسو کاري ورځو په ترځ کې دې د وزارت د بشري سرچینو د رئیس په شمول چې په یادو ناقانونه ګمارنو کې مستقیماً ښکېل دی له له آزاد رقابت پرته دي ټول ګمارل شوي کسان منفک شي، ټول هغه مسؤلین چې په یادو غیر قانوني ګمارنو کې لاس لري عدلي او قضایي ارګانونو ته ور وپېژندل شي او نوموړي بستونه دې د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو کمیسیون سره په همغږۍ د ور کسانو د ګمارنې په موخه اعلان ته وسپارل شي او اړوند راپور دې له جمهوري ریاست سره شریک شي. | ☐ تائید ☐رد<br>د مقام ملاحظه: |
| 2 | د بالمقطع کارکونکو د مقرري خلاف، په بېلابېلو برخو کې (834) تنه په بالمقطع توګه ګمارل شوي دي | د ټولو بالمقطع کارکوونکو قرارداد دې ددې راپور د منظورۍ له نېټې سره سم لغوه شي او وزارت دې ټول خالي رسمي بستونه د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو کمیسیون سره په همغږۍ اعلان ته وسپاري. که د وزارت په هره برخه کې د محافظینو اړتیا وي د کورنیو چارو وزارت دې له خپل قانوني مسؤولیت سره سم پدې برخه کې اقدام وکړي. | ☐ تائید ☐رد<br>د مقام ملاحظه: |
| 3 | استثنایي مالی امتیاز (Super scale) له (۱۵۲) بستونو څخه په یو شمېر بستونو کې د اړوند طرزالعمل خلاف غیر مسلکي او غیر تخصصي بستونو ته ځانګړې شوی دی | د جمهوري ریاست د چارو اداري، مالیې وزارت، د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو کمیسیون او د کار او ټولنیزو چارو وزارت استازو په ګډون دې یو پلاوی مؤظف شي ترڅو په دوو میاشتو کې د اړوند تقنیني اسنادو به رڼا کې د نوموړي وزارت د استثنایي مالی امتیاز (Super scale) لړۍ کره کتنه وکړي او لازم اصلاحات پکې راولي. | ☐ تائید ☐رد<br>د مقام ملاحظه: |
| 4 | د وزارت په کچه (545) رسمي بستونه خالي پاتې دي او اعلان ته ندي سپارل شوي. | خالي بستونه دې ژر تر ژره د ور کسانو د ګمارنې په موخه د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواک کمیسیون سره په همغږۍ اعلان ته وسپارل شي. | ☐ تائید ☐رد<br>د مقام ملاحظه: |
| 5 | د وزارت د رسمي تشکیل سربېره په انکشافي پروژو کې د بشري سرچینو، مالي او حسابي، تدارکات او د څارنې او ارزونې ځانګړي واحدونه را منځته شوي دي. | د ټولو انکشافي پروژو له تشکیل څخه دې هغه موازي واحدونه لکه بشري سرچینې، تدارکات، مالي او اداري برخې او د څارنې او ارزونې واحد د یوې میاشتې په ترځ کې هر یو د یو واحد ریاست تر چتر لاندې ترتیب شي او ټول لازم صلاحیتونه دې د وزارت رسمي تشکیل اړوندو برخو ته انتقال شي. | ☐ تائید ☐رد<br>د مقام ملاحظه: |

# د پلاوي د موندنو او اړوند سپارښتنو جدول

| | | | |
|---|---|---|---|
| 6 | اته کليدي بستونه د وارسي کوونکو لخوا اداره کيږي. | د يوې مياشتې په ترځ کې دې د وارسي کوونکو تر عنوان لاندې اته بستونه د آزاد رقابت له لارې اعلان ته وسپارل شي، وزارت دې منبعد له دا ډول ګمارنو څخه په کلکه ډډه وکړي. د وزارت د رهبری لخوا د کابينې د مصوبې د نقص په مورد جلالتمآب جمهور رئيس څرنګه چې لازمه ګڼي هدايت وکړي. | ☐ تائيد ☐ رد<br>د مقام ملاحظه: |
| 7 | د ماشومانو د ساتنې شبکې رياست، له درې کلونو راپدې خوا د يوه شخص لخوا د سرپرست په توګه اداره کيږي. | د وزارت د ماشومانو د ساتنې شبکې رياست سرپرست دې لدې امله چې په فساد احتمالي تورن دی او له درې کلونو راپدې خوا د قانون خلاف د سرپرست په توګه وظيفه اجرا کوي او داچې د جلالتمآب ولسمشر د هدايت په پلې کولو کې چې ذکر يې د راپور په بله برخه کې شته پاتې راغلی دی، له دندې ګوښه او اړوند بست دې ژر تر ژره د وړ کس د ګمارنې په موخه د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو کميسيون سره په همغږۍ اعلان ته وسپارل شي. | ☐ تائيد ☐ رد<br>د مقام ملاحظه: |
| 8 | د وزارت د وړتياوو د پراختيا ملي پروژې (NSDP) له قراردادي کارکوونکو څخه (۳۳) تنه په ټوليز ډول له دندو منفک او د کار قرارداد يې نه دی تمديد شوی. | د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواک کميسيون د شکاياتو بورد دې ياده موضوع وڅيړي او پايله دې له جمهوري رياست سره شريکه کړي. | ☐ تائيد ☐ رد<br>د مقام ملاحظه: |
| 9 | د وړتياوو ودې ملي پروګرام (NSDP) رئيس ته د (NTA) لايحې خلاف لوړ معاش ورکول. | د ماليې وزارت دې د وړتياوو د پراختيا ملي پروژې (NSDP) د رئيس له معاش څخه هغه اندازه پيسې چې له ټاکلې لايحې يې اضافي اخيستي د دولت عوايدو حساب ته بيرته وګرځوي او اړوند راپور دې جمهوري رياست ته را واستوي. | ☐ تائيد ☐ رد<br>د مقام ملاحظه: |
| 10 | د وړتياوو د پراختيا ملي پروژې (NSDP) په يو شمېر ګمارنو کې د کامیابو کسانو پر ځای له ريزرف کسانو سره د کار قرارداد لاسليک شوی دی. | د وړتياوو د پراختيا ملي پروژې (NSDP) رئيس چې پخپله هم پرته له آزاد رقابت څخه ګمارل شوی دی، له صلاحيتونو څخه د سواستفادې او د دې ترڅنګ د پروژې له مالی امکاناتو څخه د شخصي ګټه اخيستنې (د پوهنتون د فيس ورکړه او له معتمد څخه پور اخيستل) په وجه چې تفصيل يې ددې راپور په مالي او تداركاتي برخه کې شوی دی له دندې ګوښه او د يوې مياشتې په ترح کې دې د يادې پروژې له ټولو موجوده کارکوونکو څخه دې د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواک کميسيون، جمهوري رياست د چارو ادارې او د ماليې وزارت د استازو په حضور کې د يادې پروژې له ټولو موجوده کارکوونکو يوه ځانګړې آزموينه واخيستل شي او پايله دې د برياليو او ناکامو کار کوونکو په تفکيک له جمهوري رياست سره شريکه کړي. | ☐ تائيد ☐ رد<br>د مقام ملاحظه: |

PAJHWOK
Afghan News

# د پلاوي د موندنو او اړوند سپارښتنو جدول

| | | | |
|---|---|---|---|
| 11 | د کارکوونکو د حاضرۍ سیستم مخکې په الکترونیکي ډول جوړ شوی وه اما له شاوخوا یوه کال را پدې خوا یاد سیستم غیر فعاله شوی دی | وزارت دې په (۱۵) کاري ورځو کې الکترونیکي حاضري فعاله او د وزارت ټول رسمي او قراردادي کارکوونکي دې په یاد سیستم کې شامل شي. | ☐ تائید ☐رد<br>د مقام ملاحظه: |
| 12 | وزارت د اضافه کارۍ حاضري د ځینو کارکوونکو لخوا له یوې ورځې الی درې میاشتو نده لاسلیک شوې | د ټولو هغو کار کوونکو د اضافه کارۍ امتیاز چې حاضري یې نه ده لاسلیک کړې بیرته مسترد شي او منبعد هر کارکوونکی چې په اداره کې د اضافه کارۍ منظمه حاضري ونلري د اضافه کارۍ له امتیازه څخه دې واېستل شي. | ☐ تائید ☐رد<br>د مقام ملاحظه: |
| 13 | د وزارت د ۱۴۰۰ مالي کال تشکیل تر اوسه ندی ترتیب شوی. | د کار او ټولنیزو چارو وزارت دې د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواک کمیسیون سره په همغږۍ ژر تر ژره د ۱۴۰۰ مالي کال تشکیل وروستی کړي او د منظورۍ په موخه دې جمهوري ریاست ته را واستوي. د مالیې وزارت دې د کال په دویمه نیمایي کې د یاد وزارت د وزیر، معینانو، رئیسانو او آمرینو معاش د نوموړي تشکیل تر وروستي کېدو وځنډوي. | ☐ تائید ☐رد<br>د مقام ملاحظه: |
| 14 | د وزارت د ۱۳۹۹ مالي کال تشکیل کې یو شمېر اساسي او مسلکي برخې تنقیص او یا هم ښکته بست ته تنزیل شوي دي. | د وزارت د ۱۴۰۰ مالي کال په تشکیل کې دې د وزارت حمایوي (مالي، اداري او خدماتي) برخو کې (30) سلنه تنزیل او تنقیص راشي او د وزارت مسلکي او محوري برخې لکه د کار معینیت تشکیل باندې باید بیاکتنه وشي د اړتیاو سره سم دې پکې لازم اصلاحات راشي. | ☐ تائید ☐رد<br>د مقام ملاحظه: |
| 15 | د تشکیل په اړه د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواک کمیسیون ملاحظات رعایت شوي نه دي. | د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواک کمیسیون دې د یوې ځوابویونکې ادارې په توګه د کار او ټولنیزو چارو وزارت د ۱۳۹۹ کال په تشکیل کې د توپیري چلند په اړه خپل سپیناوی په لسو کاري ورځو کې د یوه راپور په بڼه جمهوري ریاست ته را واستوي. جلالتمآب ولسمشر دې د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواک کمیسیون په اړه څرنګه چې لازمه ګڼي هدایت ورکړي. | ☐ تائید ☐رد<br>د مقام ملاحظه: |
| 16 | د ټولنیزو چارو معینیت اړوند ریاستونو تشکیل د کاري ورته والي له اړخه سره نږدې او د ادغام او بیاکتنې وړ دي. | په وزارت کې د تشکلاتي تراکم د مخنیوي په موخه بهتره ده چې د ټولنیزو چارو معینیت درې ریاستونه (د ورکتونونو ریاست، د رزونتونونو ریاست او د ټولنیزو تأمیناتو ریاست) ولري او د معینیت نورې برخې دې د یادو ریاستونو تر چتر لاندې د آمریتونو په کچه تنظیم شي. | ☐ تائید ☐رد<br>د مقام ملاحظه: |

PAJHWOK
Afghan News

## د پلاوي د موندنو او اړوند سپارښتنو جدول

| | | | |
|---|---|---|---|
| 17 | د تشکیل په وروستنیو تغیراتو کې د پالیسی عمومي ریاست چې د وزارت محوري برخه بلل کیږي، یوه آمریت ته تنزیل شوې ده. | د ۱۴۰۰ مالي کال په تشکیل کې دې د پالیسي جوړونې په برخه کې د ریاست په کچه یو فعال واحد رامنځته شي ترڅو وزارت د پالیسي جوړونې له اړخه په خپلو داخلي امکاناتو متکي شي. | ☐ تائید ☐رد<br>د مقام ملاحظه: |
| 18 | د مالي او حسابي ریاست او اداري ریاست سربیره د ورکتونونو په لوی ریاست کې د مالي او اداري او د روزنتونونو په لوی ریاست کې د خارنې او ارزونې ځانګړي واحدونه په موازي شکل رامنځ ته شوی دی. | د ۱۴۰۰ مالي کال په تشکیل کې دې د ورکتونونو په لوی ریاست کې د مالي او اداري واحد او د روزنتونونو په لوی ریاست کې د خارنې او ارزونې واحد له منځه ولاړ شي او ټول لازم صلاحیتونه او مسؤلیتونه دې د وزارت اصلي واحدونو (مالي او حسابی ریاست او خارنې او ارزونې ریاست) ته انتقال شي. | ☐ تائید ☐رد<br>د مقام ملاحظه: |
| 19 | د بشري سرچینو ریاست درې بیلابېل آمریتونه د کاري ورته والي له اړخه سره نږدې او د ادغام وړ دي. | د بشري سرچینو له درې آمریتونو (د اداري د پراختیا آمریت، کارکوونکو سره د اړیکو آمریت او ملکي خدماتو د ښځو څخه د ملاتړ آمریت) څخه دې یوازې یو آمریت (کارکوونکو سره د اړیکو آمریت) پاتې شي چې په ریاست کې ټول څلور آمریته کیږي. د بشري سرچینو ټول وظایف دې پدې څلورو آمریتونو کې په مسلکي ډول ووېشل شي. | ☐ تائید ☐رد<br>د مقام ملاحظه: |
| 20 | د هېواد په کچه د روزنتونونو په تشکیلاتي جوړښت کې د انډول نه شتون. | د کار او ټولنیزو چارو وزارت دې د ۱۴۰۰ مالي کال په تشکیل کې د هېواد په کچه د روزنتونونو تشکیلات و ارزوي او لازم انډول دې پکې رامنځته کړي او همدا راز د روزنتونونه او ړکتونونو په جوړولو کې دې هغو ولایتونو ته لومړیتوب ورکړل شي چې تر دې دمه پکې روزنتون او ورکتون نه دی جوړ شوی. | ☐ تائید ☐رد<br>د مقام ملاحظه: |

| د بهرنیو اتباعو د جوازورکړې برخه کې سپارښتنې | | | |
|---|---|---|---|
| شمېره | موندنې | ور اندیز | د مقام هدایت |
| 1 | اکثره بهرني اتباع د بهرنیو اتباعو د استخدام مقررې خلاف روغتونونو ته بالخصوص درې مشخصو روغتونونو (بلاسم، یسرا او سیتي) ته د | له بلاسم روغتون سره د وزارت د وزیر په لاسلیک غیر قانوني تفاهملیک په اړه جلالتمآب جمهور رئیس څرنګه چې لازمه ګڼي هدایت وکړي. | ☐ تائید ☐رد<br>د مقام ملاحظه: |

# د پلاوي د موندنو او اړوند سپارښتنو جدول

| | | | |
|---|---|---|---|
| | صحي بیمې د تر لاسه کولو لپاره استول کېږي. | | |
| 2 | په ۱۳۹۹ مالي کال کې د بهرنیو اتباعو د کار جواز اړوند اسناد ناقص دي. | د بهرنیو اتباعود جواز پروسې له اسنادو سره غیر مسلکي برخورد او همدا راز د صحي بیمې او صحي تصدیق په برخه کې د یاد ریاست اړوند مقرري خلاف کړنو ته په کتو سره سپارښتنه کېږي چې د یاد ریاست رئیس دې له دندې ګوښه شي او پر ځای یې یو وړ شخص د آزاد رقابت له لارې پر دنده وګمارل شي. | □تائید □رد<br>د مقام ملاحظه: |
| 3 | د بهرنیو اتباعو د جواز ورکړې ریاست د بهرنیو کارکوونکو د څارنې په موخه مشخص طرزالعمل نلري. | د موضوع استخباراتي او امنیتي اړخ ته په کتو سره، د کار او ټولنیزو چارو وزارت او بهرنیو چارو وزارت مکلف دي ترڅو د دوو میاشتو په ترڅ کې د بهرنیو اتباعو د جواز له پروسې او د هغوی دندو د څرنګوالي په اړه د څارنې په موخه مشخص طرزالعمل تدوین او د منظورۍ په موخه جمهوري ریاست ته را واستوي. د ۱۴۰۰ مالي کال په تشکیل کې دې د بهرنیو اتباعو د کار جواز له څرنګوالي څخه د څارنې دنده د وزارت په دننه او بهر کې د یاد وزارت د بهرنیو اتباعو د کار جواز د ورکولو ریاست څخه واخیستل شي او د کار د تفتیش ریاست ته دې وسپارل شي. | □تائید □رد<br>د مقام ملاحظه: |
| 4 | د بهرنیو اتباعو د کار جواز اړوند الکترونیکي سیستم د اړینو راپورونو د ورکولو وړتیا نلري. | د کار او ټولیزو چارو وزارت دې د احصائیې او معلوماتو ملي ادارې او د مخابراتو او معلوماتي تکنالوژۍ وزارت سره په همغږۍ د بهرنیو کارکوونکو د جواز ورکړې سیستم و ارزوي او لازم اصلاحات دې پکې راولي. | □تائید □رد<br>د مقام ملاحظه: |

PAJHWOK
Afghan News

| د څارنې او ارزونې برخه کې سپارښتنې | | | |
|---|---|---|---|
| ګڼه | موندنې | ور اندیز | د مقام هدایت |
| 1 | د څارنې او ارزونې په موخه تر اوسه کومه ځانګړې تګلاره شتون نلري. | د کار او ټولنیزو چارو وزارت دې تر درې میاشتو د داخلي څارنې تر څنګ له خصوصي روزنتونونو او ورکتونونو او همدا راز د ملی او نړیوالو همکارو موسسو له کړنو څخه د څارنې یو معیاري طرزالعمل جوړ کړي او د منظورۍ په موخه دې جمهوري ریاست ته را واستوي. | □تائید □رد<br>د مقام ملاحظه: |
| 2 | د څارنې او ارزونې په موخه د وزارت په بیلابیلو برخو کې موازي واحدونه رامنځته شوي دي. | د ۱۴۰۰ مالي کال په تشکیل کې دې د وزارت له رسمي تشکیل څخه د څارنې او ازونې فرعي جوړښتونه او همدا راز د ټولو انکشافي پروژو له تشکیل څخه دې د څارنې او ارزونې برخې حذف شي او ټول لازم صلاحیتونه دې د څارنې او ارزونې یوازني ریاست ته انتقال شي. | □تائید □رد<br>د مقام ملاحظه: |

# د پلاوي د موندنو او اړوند سپارښتنو جدول

| | | | |
|---|---|---|---|
| 3 | د خارنې او ارزونې رياست د وزارت د انکشافي پروژو د پلي کېدو له څرنګوالي څخه لازمه څارنه نه ده ترسره کړې. | د ۱۴۰۰ مالي کال په تشکيل کې دې د څارنې او ارزونې تشکيل اصلاح او د څارنې او ارزونې اړوند ټول صلاحيتونه دې ورکړل شي. | ☐ تائيد ☐رد<br>د مقام ملاحظه: |
| 4 | له همکارو موسسو او نورو بنسټونو سره د لاسليک شويو تفاهم ليکونو څخه څارنه نه ده ترسره شوې. | جلالتماب جمهور رئيس دې د ياد وزارت د ټولنيزو چارو معين ته د کاري غفلت له امله څرنګه چې لازمه ګټې هدايت وکړي. د کار او ټولنيزو چارو وزارت دې يوه اونۍ کې داخلي کمېټه وټاکي ترڅو د يوې مياشتې په موده کې ټول تفاهم ليکونه و ارزوي او د څارنې په موخه يې تطبيقي پلان ترتيب او عملي کړي. | ☐ تائيد ☐رد<br>د مقام ملاحظه: |

| د مالي او تداركاتي برخې کې سپارښتنې | | | |
|---|---|---|---|
| شمېره | موندنې | ور انديز | د مقام هدايت |
| 1 | په ۱۳۹۹ مالي کال کې د شاوخوا ۳۸ میلیونه افغانیو په ارزښت د اړتیا ور توکي په پرچون ډول پېرل شوي دي. | دا چې د تداركاتو د قانون يوولسمې او دولسمې مادې، پنځه لسمې مادې دوهمې فقرې او د تداركاتو د طرزالعمل د نهم حکم دوهمې فقره نقص شوې ده، ورانديز کېږي چې د وزارت د مالي او تداركاتي برخې ښکېل کسان دې عدلي او قضايي ارګانونو ته معرفي شي، او په راتلونکې کې د تداركاتو رياست مکلف دی چې د تداركاتو د قانون او طرزالعمل په اساس خپلې کړنې ترسره کړي. | ☐ تائيد ☐رد<br>د مقام ملاحظه: |
| 2 | د کار او ټولنيزو چارو وزارت د تداركاتو له لوري د اړتياوو د تثبيت پروسه نه ده پلي شوې. | د تداركاتو رئيس دې له دې امله چې خپلې اړونده چارې يې د قانون مطابق ندي ترسره کړي چې له امله يې د وزارت په مالي او تداركاتي برخو کې سؤ استفادې او خپل سريو ته لاره هواره شوې ده، له دندې ګوښه او ياد بست دې د ور کس د ګمارلو په موخه د يوې مياشتې په ترڅ کې اعلان ته وسپارل شي | ☐ تائيد ☐رد<br>د مقام ملاحظه: |
| 3 | د کار او ټولنيزو چارو وزارت له تېرو پنځو کلونو څخه د (۳۵۰۹۶۴۶۵)پنځه دېرش میلیونه شپږ نوي زره او څلور سوه پنځه شپېته افغانيو په ارزښت پورورې دی. | دا چې د مالي تعهد، بودجوي تخصيص او کافي بودجې په نشتون کې تداركات په خپل سري ډول ترسره شوي دي چې له امله يې د تداركاتو د قانون د دولسمې مادې دريمه فقره او د تداركاتو د طرزالعمل د دولسم حکم دويمه فقره نقض شوې ده، نو په موضوع کې ښکېل کسان دې عدلي او قضائي ارګانونو ته معرفي شي. | ☐ تائيد ☐رد<br>د مقام ملاحظه: |

## د پلاوي د موندنو او اړوند سپارښتنو جدول

| | | | |
|---|---|---|---|
| 4 | خدمتي کارکوونکو (د وزارت د مرکز او دوهم واحدونو) او د روزنتونو ماشومانو ته د ژمي او پسرلني کاليو په اخيستلو کې پاتې راغلي دي. | د مالیې وزارت ته دې دنده وسپارل شي ترڅو د کره شواهدو او مؤجه دلایلو د نشتون په صورت کې او د اړوند وزارت د بودجې له ارزونې مخکې د وزارتونو په بودجه کې د داخلي تعدیل له راوستلو څخه ډډه وکړي. | ☐ تائید ☐رد<br>د مقام ملاحظه: |
| 5 | د ورتیاوو د پراختیا ملي برنامې (NSDP) څخه د وزارت د مقام کنفرانس روم د تجهیزولو او جوړولو لپاره (۷،۲) اووه اعشاریه دوه میلیونه افغانۍ اخستل شوي دي. | د وزارت د کنفرانس روم په جوړېدو کې استفاده شوي توکي د کیفیت او کمیت له لحاظه د قرارداد د محتوا په خلاف دي د قراردادي کارونه باید وزارت د داخلي بررسی ریاست له لوري وپلټل شي او د قانون مطابق دې پدې اړه اجراآت وشي. | ☐ تائید ☐رد<br>د مقام ملاحظه: |
| 6 | په ۱۳۹۹ مالي کال کې د ورتیاوو د پراختیا ملي برنامې (NSDP) له نقدي معتمد څخه (۶۶۹۱۲۵) شپږ سوه او نه شپیته زره یو سل او پنځه ویشت افغانۍ نغدي پیسي اخستل شوي دي چې بیرته نه دي ورکړل شوي. | د ا چې په ۱۳۹۹ مالي کال کې د دولت پیسې د شخصي لګښتونو لپاره د دې برنامې د رئیس له طرفه اخیستل شویدي او ۱۳۹۹ مالي کال هم پوره شویدی، نوموړې کسان باید د یوې میاشتې په ترځ کې اخیستل شوی پور د ورتیاوو د پراختیا ملي برنامې (NSDP) نقدي معتمد ته د عوایدو د بورد د 1352/12/12 نېټې (174) شمېرې پرېکړې مطابق د (۱۲) سلنې جریمې سره بیرته ورکړي. | ☐ تائید ☐رد<br>د مقام ملاحظه: |
| 7 | د وزارت د مقام رسمی کارمندانو ته د پروژو د بودجې څخه معاشونه حواله شوي دي. | په ۱۴۰۰ مالي کال کې دې د یادو کسانو معاش له دې پروژې څخه قطع شي . | ☐ تائید ☐رد<br>د مقام ملاحظه: |
| 8 | په ۱۴۰۰ مالي کال کې ځینو باالمقطع کارمندانو ته د مالیې وزارت د موافقې پرته معاشونه حواله شوي دي. | دا چې د مالي چارو او عامه لګښتونو د اداره کولو قانون (۱۲) دولسمه ماده نقض شوې ده، مسؤول یا ښکېل کسان دې عدلي او قضائي اورګانونو ته معرفي شي. | ☐ تائید ☐رد<br>د مقام ملاحظه: |
| 9 | د ورتیاوو د پراختیا ملي برنامې (NSDP) رئیس ته د وزارت د مقام له طرفه د (۵،۰۰۰) پنځه زره امریکایي ډالرو پیشنهاد د شخصي لګښت لپاره منظور شوی دی. | د ورتیاوو د پراختیا ملي برنامې (NSDP) له رئیس څخه دې یادې پیسې د یوې میاشتې په ترځ کې بیرته حصول شي او دا چې د وزارت مقام او د ورتیاوو د پراختیا ملي برنامې (NSDP) رئیس پیشنهاد منظور کړی دی، د ریاست جمهوري د عالي مقام له حکم څخه یې سر غړونه کړیده، د جمهوري ریاست عالي مقام دې په دې اړه څنګه چې لازمه ګڼي هدایت وکړي. | ☐ تائید ☐رد<br>د مقام ملاحظه: |
| 10 | مالیې وزارت د کار او ټولنیزو چارو زوارت دربوو پراختیایي پروژو ته له استول شویو پروپوزلونو یا دفاعیو څخه (۶۴) میلیونه افغانۍ اضافي بودجه ورکړې ده. | د مالیې وزارت دې هغه اضافي بودجه چې د کار او ټولنیزو چارو وزارت اړوند پروژو ته پرته له پروپوزل او پلان څخه استول شوې ده بېرته وګرځوي. جلالتمآب جمهور رئیس دې د مالیې او کار او ټولنیزو چارو وزارت ته د بودجې د ناسالم مدیریت په هکله څرنګه چې لازمه ګڼي هدایت وکړي. | ☐ تائید ☐رد<br>د مقام ملاحظه: |

PAJHWOK Afghan News

# د پلاوي د موندنو او اړوند سپارښتنو جدول

| شمېره | موندني | ور اندیز | د مقام هدایت |
| --- | --- | --- | --- |
| | | روزنتونونو او وړوکتونونو برخه کې سپارښتنې | |
| 1 | د تاکل شویو موخو سره سم د یتیم او زیانمنو ماشومانو د پروژې د بودجې نه لګول | په ۱۴۰۰ مالي کال کې دې د یادې پروژې اداري مصارف کم شي. همدا راز د یاد مالي کال له پیل څخه دې د مشاور تر عنوان لاندې بست د یادې پروژې له تشکیل څخه بهر شي او د نورو برخو د مشاورینو معاش دې هم لدې پروژې څخه قطع شي. | ☐تائید ☐رد<br>د مقام ملاحظه: |
| 2 | د ماشومانو د ډیټابیس نه شتون. | د هېواد زیانمنو ماشومانو په اړه د کره معلوماتو لرلو او ورته د ښه رسېدنې په موخه، اړتیا لیدل کېږي ترڅو د کار او ټولنیزو چارو وزارت دې د احصائیې ملي اداري سره په همغږۍ د درې میاشتو په ترڅ کې د هېواد (۲۳) کټګوریو زیانمنو ماشومانو ته ډیټابیس رامنځ ته کړي. | ☐تائید ☐رد<br>د مقام ملاحظه: |
| 3 | د مرکز په روزنتونونوکې بې کیفیته او غیر صحي خواړه. | د کار او ټولنیزو چارو وزارت دې د روزنتونونو او وړکتونونو د خوراکي توکو څخه د دوامدارې څارنې په موخه د چارو اداري له لوري څارنه وشي. | ☐تائید ☐رد<br>د مقام ملاحظه: |
| 4 | له (۱۸) کلنۍ څخه وروسته په روزنتونونوکې د شاملو ماشومانو ناځرګند برخلیک | د کار او ټولنیزو چارو وزارت دې د عدلیې وزارت سره په همغږۍ د روزنتونونو په اړوند مقرره بیاکتنه وکړي او تر (۱۸) کلنۍ وروسته ماشومانو ته د هغوی د لوړو زده کړو او کار کولو په اړه دې پکې لازم تدابیر په نظر کې ونیول شي. | ☐تائید ☐رد<br>د مقام ملاحظه: |
| 5 | د کار او ټولنیزو چارو وزارت او پوهنې وزارت ترمنځ قانوني او مقرراتي ستونزې ( د وړوکتونونو او د ښوونځي څخه د مخکې دورې تعلیمات). | د پوهنې او کار او ټولنیزو چارو وزارتونه دې د عدلیې وزارت سره په همغږۍ د وړوکتونونو او د ښوونځي څخه د مخکې دورې تعلیماتو د قوانینو او مقررو د تعدیل په برخه کې اقدام وکړي او د ماشومتوب د لومړنۍ دورې او د ښوونځي څخه د مخکې دورې د چمتو کولو دنده دې د کار او ټولنیزو چارو وزارت ته وسپارل شي. | ☐تائید ☐رد<br>د مقام ملاحظه: |
| 6 | د ماشومانو د حمایوي مرکزونو د رامنځته کولو د طرحې وړاندې کولو په برخه کې د عالي مقام د هدایت نه پلي کېدل . | د کار او ټولنیزو چارو وزارت (د ماشومانو د ساتنې ریاست) دې د عالي مقام د هدایت پلي کېدو او ذهني کمزورۍ لرونکو ماشومانو ته د رسېدنې په برخه کې د طرحې د جوړېدو او اړوند حقوقي اړخ د څرنګوالي په اړه د عالي مقام د هدایت سره سم په (۱۵) کاري ورځو کې جمهوري ریاست ته راپور ورکړي. | ☐تائید ☐رد<br>د مقام ملاحظه: |
| 7 | په وړوکتونونو کې د کوچني ماشومانو تر پوښښ | د کار او ټولنیزو چارو وزارت دې په ۱۴۰۰ مالي کال کې په دوهمه نیمایي کې بودجوي امکانات برابر | ☐تائید ☐رد |

# د پلاوي د موندنو او اړوند سپارښتنو جدول

| | | | |
|---|---|---|---|
| | لاندې نه راتګ. | او د کوچي ماشومانو د ملاتړ په موخه لږ تر لږه په هر زون کې یو وړوکتون رامنځته کړي او د وړوکتونونو د لوی ریاست تر چتر لاندې دې کوچي ماشومانو ته د لازمې رسېدنې لپاره لاره هواره کړي. | د مقام ملاحظه: |

| د فني او حرفوي مهارتونو د ودې په برخه کې سپارښتنې | | | |
|---|---|---|---|
| شمېره | موندني | ور اندیز | د مقام هدایت |
| 1 | د تصدیق ورکولو او ارزونې د کمیسیون نه اغېزمنتوب. | اقتصادي شرایطو او د کار په بازار کې تکړه او د شرایطو وړ کارکوونکو د ګمارنې ګړندي بهیر ته په کتو، د کار او ټولنیزو چارو وزارت دې په ۱۴۰۰ مالي کال کې د فني او حرفوي زده کړو په برخه کې د ارزونې او تصدیق ورکولو پروسه ژر تر ژره پیل کړي او حد اقل په روان کال کې دې د (۱۰۰۰) زرو شاوخوا د کار نړیوال بازار پر شرایطو برابر کسان تشخیص کړي. | ☐ تائید ☐ رد<br>د مقام ملاحظه: |
| 2 | له کوریا هېواد سره د (۱۰) میلیونه ډالرو په ارزښت د هوکړه لیک په پلي کولو کې ناسمه استفاده او د چارو د لازم پرمختګ نشتون. | د کار او ټولنیزو چارو وزارت دې ژر تر ژره د افغان کوریا ښوونیز مرکز مسؤل له دندې منفک او یاد کس دې د کوریا هېواد د مرستو څخه د ناسمې ګټه اخیستنې په موخه عدلي او قضایي ارګانونو ته معرفي شي. وزارت دې په دوه میاشتو کې دې د یاد ښوونیز مرکز په تشکیل او کاري برنامو کې لازم اصلاحات راوړي او د مالي کال په پای کې دې د نوموړي مرکز د اصلاحاتو او لاسته راوړنو راپور جمهوري ریاست ته را واستوي. | ☐ تائید ☐ رد<br>د مقام ملاحظه: |
| 3 | د ورتیاوو د پراختیا ملي پروژې (NSDP) کې د لازم اغېزمنتوب نشتون. | جلالتماب جمهور رئیس دې د کار او ټولنیزو چارو وزارت کې د ورتیاوو د پراختیا ملي پروژه (NSDP) د دوام یا نه دوام په څرنګوالي څرنګه چې لازمه ګڼي، هدایت وکړي. | ☐ تائید ☐ رد<br>د مقام ملاحظه: |
| 4 | بهر ته د کار ګرانو د استولو او په هېواد کې د ننه د کارموندنې په پروژه (PLACED) کې د لازم پرمختګ نشتون او د نړیوالو مالي مرستو ضایع کول. | د یادې پروژې مدیریتي اړخ دې د کار معینیت ته وسپارل شي. وزارت دې په دوه میاشتو کې د یادې پروژې په تشکیل او کاري برنامو کې لازم اصلاحات راوړي او د مالي کال په پای کې دې د نوموړې پروژې د اصلاحاتو او لاسته راوړنو راپور جمهوري ریاست ته را واستوي. | ☐ تائید ☐ رد<br>د مقام ملاحظه: |

| د ټولنیزو تأميناتو په برخه کې سپارښتنې | | | |
|---|---|---|---|
| شمېره | موندني | ور اندیز | د مقام هدایت |

PAJHWOK Afghan News

## د پلاوي د موندنو او اړوند سپارښتنو جدول

| | | | |
|---|---|---|---|
| 1 | د ټولنيز خونديتوب د پاليسۍ نه شتون. | د ټولنيز خونديتوب پاليسی دې د همکارو وزارتونو په همکارۍ سره جوړه شي. | ☐ تائيد ☐ رد<br>د مقام ملاحظه: |
| 2 | د دولتي کارکوونکو د خسارې د جبران له کوډ څخه استفاده نه کول | د کار او ټولنيزو چارو وزارت دې اړوندو وزارتونو، ادارو او بنسټونو سره په همغږۍ حقوقي جوړښت (د وزارتونو ترمنځ طرزالعمل او هوکړه ليک) رامنځ ته کړي ترڅو د ياد کوډ لا فعالولو او استفادې ته لاره هواره شي. | ☐ تائيد ☐ رد<br>د مقام ملاحظه: |

PAJHWOK
Afghan News